



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اعلان

ګرانو او قدرمندو لوستونکو پښتو ډاټ نیټ د دې کتاب سره ډیره خواري کړي ده او په ډیر عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په غرض ډالۍ کوي د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول یا زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقي جرم دے بلکې ډیر سخت منع دي

پښتونستان
پښتو ډاټ نیټ

Presented By : Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقوق محفوظ دي

---

د کتاب نوم ——— ګل پاڼره
ليکوال ——— علي خيل درياب
کتابت ——— لطف الله پښتو اکيډيمي
د چاپ کال ——— جنوري سنه ۱۹۹۹ء
د چاپ شمير ——— پنځه سوه
ترتيب ——— عرفان خټک
بيعه ——— -/۵۰ روپۍ

خورونکي :-

هميشه پښتو ادبي ټولنه (رجسټرډ) امانډره

د موندلو درک :-

جميل بک سيلرز مين بازار بټخيله

---

سرپانړه - اين ايس ارتهسته تخت بهائي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تړون

د ګل پاڼې په نوم
چه زما د خیالي دنیا د
خوشبوګانو بناپیرۍ ده

دریابه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


پیش نامه ——— هیش خلیل ۶

کوزه کښے سمندر ——— ډاکټر محمد اعظم اعظم ۱۱

ګُل پاڼړه ——— ډاکټر اقبال نسیم خټک ۱۶

دَ غزل رنګ دَ افسانے په کاله کښے ——— میاں فضل الرحمان شاهد ۲۲

| مخ | سرخط | | مخ | سرخط | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵۱ | زړه پاڼړه | ۲۰ | ۳۲ | خاوُرے | ۱ |
| ۵۲ | بدل | ۲۱ | ۳۳ | جرم | ۲ |
| ۵۳ | کانړئ | ۲۲ | ۳۴ | دَکوټ میرونے | ۳ |
| ۵۴ | بے عملی | ۲۳ | ۳۵ | مات منګے | ۴ |
| ۵۵ | ړوله اوخپانړه | ۲۴ | ۳۶ | پردئ سترګے | ۵ |
| ۵۶ | حرُموتے | ۲۵ | ۳۷ | ناپیژنه زړباندے بلابلا راوُریږی | ۶ |
| ۵۷ | ګرپنک کل | ۲۶ | ۳۸ | مادہ پرستی | ۷ |
| ۵۸ | پرتوغایتی | ۲۷ | ۳۹ | نانہ وُلے جذبے | ۸ |
| ۵۹ | پیسے | ۲۸ | ۴۰ | یقین | ۹ |
| ۶۰ | اعتماد | ۲۹ | ۴۱ | نُورے | ۱۰ |
| ۶۱ | خرګند لیونے | ۳۰ | ۴۲ | ښتیزه | ۱۱ |
| ۶۲ | متهاکی غوز | ۳۱ | ۴۳ | دَ زهرو ټپونه | ۱۲ |
| ۶۳ | نوکری | ۳۲ | ۴۴ | پښتانهٔ | ۱۳ |
| ۶۴ | باور | ۳۳ | ۴۵ | برندهٔ خاموشی | ۱۴ |
| ۶۵ | غانړکی | ۳۴ | ۴۶ | لیبرل ماشینډه | ۱۵ |
| ۶۶ | تَلَه | ۳۵ | ۴۷ | شاپیرۍ | ۱۶ |
| ۶۷ | انډیواله | ۳۶ | ۴۸ | نو بیه توملہ | ۱۷ |
| ۶۸ | دَ نامهٔ زنړا | ۳۷ | ۴۹ | لوټیا | ۱۸ |
| ۶۹ | ورورۍ خوری | ۳۸ | ۵۰ | بعامے | ۱۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۳۹ | تپوس | ۷۰ |
| ۴۰ | ډډرۀ غوښې | ۷۱ |
| ۴۱ | بګو باباجي | ۷۲ |
| ۴۲ | حرام | ۷۳ |
| ۴۳ | ګناه | ۷۴ |
| ۴۴ | ؟ | ۷۵ |
| ۴۵ | روریدلے بیاسته | ۷۶ |
| ۴۶ | چینده | ۷۷ |
| ۴۷ | ورخته | ۷۸ |
| ۴۸ | شپلونه | ۷۹ |
| ۴۹ | خیوته تولیه | ۸۰ |
| ۵۰ | میراته کونډه | ۸۱ |
| ۵۱ | بے روزګاري | ۸۲ |
| ۵۲ | جوارګر | ۸۳ |
| ۵۳ | I miss you | ۸۴ |
| ۵۴ | ژرنده | ۸۵ |
| ۵۵ | شتالان | ۸۶ |
| ۵۶ | مذهب که مینه پښتو | ۸۷ |
| ۵۷ | قاتل څوک دے؟ | ۸۸ |
| ۵۸ | توپیر | ۸۹ |
| ۵۹ | MENSES | ۹۰ |
| ۶۰ | شین خالی | ۹۱ |
| ۶۱ | قادر | ۹۲ |
| ۶۲ | د توبے بورجل | ۹۳ |
| ۶۳ | تعلیم | ۹۴ |
| ۶۴ | ابلیس | ۹۵ |
| ۶۵ | حوالدار فاتح رحمن | ۹۶ |
| ۶۶ | اُستاد جي | ۹۷ |
| ۶۷ | تهویک ملنګ | ۹۸ |
| ۶۸ | تهوخے | ۹۹ |
| ۶۹ | کرامات | ۱۰۰ |
| ۷۰ | نامه | ۱۰۱ |
| ۷۱ | ایمل خان کانسی | ۱۰۲ |
| ۷۲ | مُسلمان | ۱۰۳ |
| ۷۳ | Masterkey | ۱۰۴ |
| ۷۴ | کفاره | ۱۰۵ |
| ۷۵ | پټان اکا | ۱۰۶ |
| ۷۶ | انسان | ۱۰۷ |
| ۷۷ | کورنۍ خصلتونه | ۱۰۸ |
| ۷۸ | سکندر | ۱۰۹ |
| ۷۹ | میلمه | ۱۱۰ |
| ۸۰ | ممتاز | ۱۱۱ |
| ۸۱ | دُنیالیوتی | ۱۱۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیش نامه

دقلم په ژبه دیو زلمي لیکوال دمشاهداتو او واقعاتو دا نتیجه خیزه ادبي مجموعه هغه لفظي تصویرونه دي چه که یو مصوّر ئې د بُرش اورنګونو په تعاون د روایتي تصویرونو حقیقت ته ورسوي نو یو داسې البم به ترې جوړ شي چه هر نقش به ئې دخپل پس منظر په خاموشه ژبه د معاشرې د دردناکو، حسرتناکو او عبرتناکو المیو یو نه ختمیدونکې داستان را او سپړي.

دعلي خیل دریاب دنګارخانې دغو المناکو لفظي تصویرونو ته چه کورم نو هریو دخپلې خپلې افسانې هغه عنوان دے چه تفسیر او تشریح ئې دپخوانو ځنو حکیمانو او فلاسفرانو هغه اقوال دي کوم چه هغوئ هم پخپله خپله زمانه د خپلې خپلې معاشرې په تنه بوده کښې ددغه قسمه واقعاتو له محسوسولو نه پس رقم کړي وو ـ ځکه نو د "پښتانه" په نوم دبناغلي مصنف لفظي تصویر که یو مصوّر په رنګونو منجمد کړي نو د امام غزالیؒ او هربرټ سپنسر د اقوالو دغه کیپشنونه به ورسره مناسب ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ښځو کښې يو قسمه کمزوري ده چه علاج ئې تحمل دے"

(امام غـــزالي)

" د ښځې زړه د هغې په ذهن بادشاهي کوي."

(هربرټ سپنسر)

## زړنده :-

د دغه عنوان لفظي تصوير ته که چا فنکار د خپل فن د رنګونو ښائست ورکړو ـ نو کيدے شي چه د "بکونن" د قول دا کيپشن ورسره هم ښه ومني ـ

" ترکومه چه يو انسان د بل انسان په سپټ سور
دي ـ دنيا کښې به امن محض يو خوب وي."

## بړنده خاموشي :-

د موجوده دور د سياسي مجبورو او بے انصافو هغه الميه ده چه که په صوري رنګ کښې پيش کړے شي نو د هربرټ سپنسر د غه قول به ورلاندے اوبيکي ـ

" د نه حقدارو خلقو د پاره د حقدارو خلقو حق ومنل
نه صرف د انصاف په مرۍ چاړه راښکل ده بلکه ديده او
دانسته د اشده نسلونو په لار کښې ازغي کرل دي ـ او هم
دغو نسلونو د پاره د دے نه لوئے افت او غضب نه شي
کيدے چه ورته کښې ورته نالائقه خلق پريږدي."

## مانړۍ :-

دا که چا سنګتراش وتراشله ، نو د اسکر وائلډ دا قول به ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تراشل هم نهٔ هیروی .

" د زمانو رابسے دولتمند و د غریبانانو د بغاوت د مخنیوی دپاره دا مؤثره طریقه راویستے ده - چه د غریبانانو د گټے وټے لږه شان برخه دوي ته د خیرات په شکل واپس کړی . "

## جرم :-

د دغه عنوان مفهوم کهٔ د مصوّر د آرټ په برکت تکمیل شي. نو د ډرائنګ روم په دیوال د زښت کولو وړاندے د "بیکن" د قول دا الفاظ دِ هم ورلاندے ویسکلے شي .

" د دولت پریوانی د ځوانئ تباهي ده "

## مات منګے :-

د کشمالے مات منګی ، نونګ ته څهٔ اووے ؟ شاید دا چه

" سر خٔارشه لهٔ عزته "

خو د امام غزالیؒ دا قول دِ هم ورسره شي چه .

" طبیعي شهوت په انسان او حیوان کښے یوشان وی . خو وضعي شهوت انسان کښے صرف په تهٔ تربیت او بد صحبت زرغونیږی "

## بے عملی :-

په قول د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنهٔ

" عمل بے علمه عیب ژن او بیمار دے او علم بغیر د عمل نه شنډ او بیکار دے . "

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تله :-

د علی خیل دریاب دا دردناک تصویر شاید چه د هغه د نګارخانې شهکار ثابت شي ۰او د دغه حسرتناکه تصویر لاندې د ویکټرهیګو د غه نادر قول شاید چه د تماشګیرو په زړونو او ذهنونو کښې د یو انقلاب سبب شي .

"هرکله چه انسان د پیدائش په وخت او بیا د مرګ نه پس هم مساوي دے ، نو آخر ولے دے د ژوند میانځنی موده هم مساوي تیره نهٔ کړي ؟

## تپوس :-

جمیل نه د ممانړے دا تپوس که یو خوا د ماشومے سپرغ د دردونو د علاج آرزو ده ، نو بل خوا د جمیل مفلسئ او غربت د هغے په آرزو د بے وسئ یخ اوبه توئے کړے . د بناغلی دریاب د دغه تخیل جامد تصویر سره د برناډ شا دا الفاظ په زړی سیاهئ دیکلو دی .

"دنیا کښې د تولو نه لویه او بدترینه ګناه غریبي ده . نور ټول ګناهونه د غربت په وړاندے کوچنې نیکئ دي"

ګرانو لوستونکو !

ما د قلم په ژبه د بناغلی علی خیل دریاب د څنو تحریری تصویرونو خاموشه آوازونه ستاسو ترغوږو کړه . باقی بیا تے

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصویرونه او د حال په ژبه د هغو داستانونه تاسو څنګه وګورئ او واورئ .

خو د فرینکلن دا قول هم یاد لرئ چه

" ډیر داسې دردناکه واقعات شته چه د افسانې جوړیدلو نه وړانده ـــ محو شي ."

هیښ خلیل

۲۳ ستمبر ۱۹۹۷ء

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوزه کښې سمندر

په اول ځل د علي خېل دریاب د نوم په اورېدو سره زما په تصور کښې یو پراسراره کردار او بریښېده. څو چې را مخامخ شو نو د پېښور پوهنتون د پښتو شعبې یو عام ساده ټټه ناک او خاموشه زلمے وو.

روسته د هغهٔ د خبرو اترو او لیکونو نه دا حقیقت رابرڅېره شو چې دریاب د ډېر بښیرازه ذهن او ځلانده تخلیقي صلاحیتونو څښتن دے. دغه په زور چې هغه په نثر او نظم دواړو کښې د خپل عمر نه ډېر زیات ښهٔ لیکونه کوي او په دے کښې هیڅ شک نشته چې هغه په ډېر کم عمري کښې خپل ځان او خپل صلاحیتونه خپلې ژبې او ادب ته سپارلي دي - او هم دغه لیونۍ مینه او لیوالهٔ جذبے په داړ د هغهٔ په لیک کښې د یو خاص قسمه تازګي ساد ګي او خود اعتمادي په یو ځائے لیدے او موندے شي.

څه موده وړاندے ښاغلي دریاب ماته خپله یو نثري مجموعه راکړه. په دے خیال چې زهٔ هغه دکورم او په هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندے څه وهم نیکم . او دا دواړه خبرے ماته په ده کړانے
ښکاری چه د علی خیل دریاب نه وړاندے هم د هغهٔ د کهول دیو
ټو زلمو کتابونه ماته هم په دغه غرض پرانته دی . خو د
دریاب نه خلاصے گران دے او بیا چه په چا ئے لاړ وی
نو خبره نوره هم گرانه شی . او حقه خبره دا ده چه علی خیل
دریاب په ما ډیر گران دے . او هم له دے کبله چارو ناچار
م د هغهٔ "گل پاڼړے" کتـلو او په مغے څه لیکلو ته غاړه
ورکـړه .

د بنا علی دریاب د دے نثر ټوټو په کتـلو زهٔ په یو
عجیبه دوجاله کښے راګیر کړم . دا دواړه کوچنی کوچنی لیکونه
که یو خوا اثرناک او عبرتناک دی نو بل خوا حیرتناک هم
دی او د حیرانتیا خبره دا ده چه دا په پښتو ادب کښے یخی د
یو نوی صنف د قیمتی شکل دے چه نامه یه ورلـه موښ
پخپله خوښوو .

بنا علی دریاب د خپل چاپیرچل د روان ژوند نه واړه
واړه واقعات ، امروزه پیښے ، پارسیدلی تاثرات ، هموار او
ناهوار کردارونه او د تجسس نه ډکے مشاهدے راټولے کړی
دی او هغو له ئے د افسانچو شکلونه ورکړی دی . تکنیک ئے
د لنډے افسانے ښکاری . ... وے بیا هم که افسانه ورته
نهٔ شو ویلے نو د افسانے مینه پرے ماتیږی . ځکه چه دے
کتاب کښے موجود دهرے دا قیصے او هر تاثر یا هره مشاهده ئے

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجام څه په داسې ډول کيږي چه د لوستونکي ذهن ته بې
اروم و خپل اثر اخلي او بنده په دې وينا مجبوره شي چه
دریاب په کوزه کښې سمندر بند کړے دے .

د علي خيل دریاب د قيصې دا شکل که زمونږ په
ادب کښې خپل ساری لهتوی . نو ذهن د عبدالقادرخان خټک
په ګلدسته باندے ټيکا وهے کوی . " ګلدسته " د فارسۍ
ژبې د نوموړی ليکوال شيخ سعدي د ګلستان پښتو ترجمه ده.
کومه چې زمونږ د نثري ادب په وړومبو کتابونو کښې يوه
قيمتي دالئ ياديږي . اولکه څنګه چه د ګلستان حکايتونه
د شيخ سعدي د مشاهدے ، علم او فکر يوه بې بهاپنګه ده.
هم په دغه ډول ښاغلي دریاب د خپل چاپيرچل او خوا وشا
نه داسے واقعات ، کردارونه او مشاهدے راخستے دی . او
په خوند خوند او رنګ رنګ ئے بيان کړی دی چه لوستونکے
ورته په داد ورکولو مجبور شي . زما د دے وينا نه دا مطلب
اخستل نهٔ دی په کار چه ګني زهٔ خپل شاګرد د سعد
غونډے د نړيئ ادبي شخصيت په مقابله کښې راوستل غوارم
زما اشاره د دریاب د دے افسانچو اسلوب ته ده چه هغه
د ښاغلي سعدي شيرازي د حکايتونو د طرز سره ډير
سمون خوری .

" ګل پا نړے " د افسانچو انداز طنزيه دے او هره پښه
هره واقعه او هر کردار پکښې په شعوری ډول د ليکونکي له خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خه نه خه شکل کښې د طنز توکې رابرڅېره کوي . او
ټېکونکې په دې کوښښ کښې ناست ښکاري چه په هر ځائې
په هر خه او په هرچا خه نه خه ټک اوکړي . او په دا سې
کولو کښې هغه ګرم هم نهٔ دې . ځکه چه دریاب هرڅهٔ
ډېر د دریاب نه راخستې دي او د ډېر حقیقتونه ډېر
تراخه وي . د دې ترخو ګټونو او مترو ګنډارونو دے مجموعې
له که ژهٔ له خپله اندازه د "ټکونو" نامه خوښه کړم . نو
خوښه د دریاب ده او فیصله ستاسو .

په دې "ټکونو" کښې ځنې داسې هم ځنې له راشي چه
هغې ته مونږ لنډ افسانه ( SHORT STORY ) هم
وئیلې شو لکه د مثال په توګه "جوارګی"

" زما نوم زهرا دے . د شکلنې با ښې دطوطي ګل
لور یم . پښتونیشت کاله وړاندے چه پلار دجوارګي
په داؤ باسیللم نو ګمتلي جوارګي ترڅنګ را اورسوم
مامور چه دچکلې په برنده تیاره کښې دخپلې سکه
خور پېژندګلو اوکړه نو هم دهغې په غېږ کښې
په لوتے خوب اوده شو."

خو دګوتملي او راغونډ پلاټ دا مثالونه سپه
دې "ټکونو" کښې کم دي . زیات تر په کښې تاثرات
دي . خو دغه تاثرات هم د حکمت او مقصدیت نه خالي
نهٔ دي . لکه "خاورے"

(c) ketabton.com: The Digital Library

" خاٹکے ... یا ... خاٹکے دا سپرے وکے وهے

سریه ! داته کورے نه چه خاورے خوري .

آقو - پرېږده چه خوري کنــه . زموږ په کاله

کښې بې د خاورو نه څه دي . "

دعلي خیل دریاب په دے افسانچو کښې په ځنو ځنو د

اوپره جذباتیت او مبالغې رنګ هم خوړدے - خو اکثریت پکښې

دمغه قصه ګوټو دے چه هغو کښې زموږ دچاپیرچل ژوندی

حقیقتونه ساه اخلی او دښاغلی علي خیل دریاب دمقصدی

سوچ او رسا فکر ګواهي ورکوی .

دزلمي فکر او ځوانو ولولو په دے انقلابي قدم زهٔ ښاغلی

دریاب ته دزړهٔ له کومے مبارکی ورکوم - په دے چه په نوی وال

ادب کښې ددے طرز دلیکوالو اهمیت او افادیت ورځ په ورځ زیاتیږي او بیا په هغه ملک

کله چه دمعاش په دے لوټے درز غوبل کښې دچاسره دلوبو

لویو قصو او اوږدو اوږدو داستانونو دلوستو او اوریدو

وخت پاتے نهٔ دے اوکه دوروکی نیک کښې ورته

داسے دخیال او فکر نه ماموره څو لمحے په لاس ورشي

نو دا هم غنیمت دے .

ډاکټر محمد اعظم اعظم

پېښور پوهنتون

۱۱ فروري ۱۹۹۸ ء

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګل پاڼړه

د قیمتي د اوریدلو او د قیمتي د اورولو فطري خواهش دانسان په خمیر کښې ځاني اغږلے شوے دے ـ دقیمتي داوریدونکي ترهغه پورے تسکین نۀ کیږي ترڅو چه ئے پوره قیمتي بنۀ په توجه سره اوریدلے نۀ وي او دقیمتي راوي ترهغه پورے دقیمتي مزے دلاس نه نۀ پریږدي ترڅو چه ئے قیمتي سرته رسولے نۀ وي او داۓ وئیلي نۀ وي چه

" زما مسئله تیره بیره ددې کتورے ډکی

راوي داوریدونکي نه دځیل زړۀ رابښکونې انداز بیان د حافظے دکمال او دډیر دخوب والي داد وصولول ځپل حق ګڼړي او د اوریدونکو له خوا دغه داد د راوي انعام هم وي او صله هم.

نو دادمغه وخت خبرے دي چه دخلقو ځنه د فرصت کیبےنۀ وو ـ په معنوي کښے مینه وه ، اخلاص وو او زړۀ خوږي وه ، حجرے ، جماتونه او ګودرونه اباد وو ـ خلق به بلا ناغه دمابنام

---

ډګلونو پاڼړے بویه چه قمیص شي د ملوکے
دورینبمو دقمیص ئے نازک بدن ملول دے (خوشحال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډوډۍ نه پس حجرے ته تلل او بیا خاص طور سره په ژمي کښے خو به ئے ترنیمے شپے قصه ګو ماما ته غوږ نیولے وو۔ دغه شان به چه قافلے په اوږدو سفرونو تللے، نو سخت او اوږدۀ سفرونه به قصه ګویانو د قصّو په جادو اسانول او رالنډول۔ په دغه قیصو کښے به زیاتے قیصے د مافوق الفطرت عناصرو نه ډکے وے او واقعات به ئے د انساني پوهے نه بهر وو۔

ژوند ګړندے چه څومره مخ په وړاندے تلو وخت رالنډیدو نوے نوے مسئلے راټوکیدے او نوی ضروریات راوړاندے کیدل او خبره دے ته راورسیده چه د وخت د کمي احساس او د ژوند بے شمیره ضروریاتو د انسان ذهني او بدني سکون اولوټلو۔ د نوی دور د انسان څخه دومره فرصت چرته دے چه په ورځو ورځو او هفتو هفتو د ناست وی او اوږدۀ اوږدۀ داستانونه د اوری۔

په مغرب کښے په دغه قسم قیصو کښے مرچ مصالحه ګډه کړے شوه، رنګ روغن ورے او خیږولے شوه او د ناول نوم ورکړے شو او بیا د ناول نه لنډه قیصئ را اوزیږیده۔ خو د پښتو معامله داسے نۀ ده. په پښتو کښے لنډه قیصئ د ناول نه رومبے راټوکیدلے ده او هم د خپلے خاورے پیداوار دے۔

پښتو کښے د افسانے عمر ډیر کم دے او که مونږ ښاغلے راحت زاخیلی د پښتو افسانے امام اومنو نو د افسانے عمر د اتیا کاله نه څخیږی نۀ څی ځکه چه "کنډه جینئ" تر اوسه د پښتو رومبئ افسانه منلے شی چه راحت زاخیلی صاحب په کال ۱۹۱۷ء کښے لیکلے وه۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کال ۱۹۱۶ ځ نه تر کال ۱۹۳۶ ځ پورې د افسانې رفتار ورو نه
سُست بلکه د نشت برابر دے - البته د ازادئ نه پس پښتو افسا
د توجه مرکز ګرزیدلے دلا او ښهٔ ښهٔ افسانه نګاران او افسانو لیکي
میدان ته راغلي دي او په هره موضوع ئے افسانے لیکلے دي - اکثرو
افسانه لیکونکیو په افسانه کښے د ژوند مسئلے بیان کړے دي
خو د روایاتو نه بغیر ئے قدم نهٔ دے ایښے خو بعضے افسانه نګارانو
د جنس او ښځینې مسئلے ته زیات اهمیت ورکړے دے او هم د ا د هغوئ
د فن مقصد هم دے او معیار هم .

په پښتو کښے چه کوم افسانه نګار مختصره افسانه په مختصرترینې
شکل کښے په کامیابئ سره او لیکله هغه ارباب رشید احمد خان دے
چه "ډانګاز دے" په نوم ئے خپله مجموعه چاپ کړه اګر که په دغه
افسانو کښے د تحیّر احساس ( suspense ) ډیر زیات
دے خو د تحیّر د احساس نه بغیر افسانه د معیار نه پاتے
کیږي . خو د ارباب صاحب تقلید چا هم او نهٔ کړو - او شاید د دغه
منفرد انداز صرف د ارباب صاحب برخه او ګرځیده .

ښهٔ رایاد شي چه ما د فرورئ ۱۹۶۵ ځ یا اغلباً ۱۹۶۶ ځ د
زیارت په یو مازیګر خپل یو محترم استاد چه د سکول هیډ ماسټر
وو او دوه خوارۀ مګرې د میلمستیا په خاطر ځان سره روان
کړل . د سکول نه په سویل په شنو پټو کښے پیاده تګ ډیره
مزه کوله خو اسمان سترګے ښځه نهٔ غړولے . ساړهٔ لحظه په لحظه
زیاتیده او دم کله چه موږ یو شاړ خوړ ته راورسیدو نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه افسانچو په ډېره کښې چه کوم خوبيانې [illegible]
شي بيانولے ئې نهٔ شي . د کل پانړے افسانچے د ايمائيت، علامتي انداز
او د پښتني چاپېرچل ښکلے نمونے دي . د شمېر په څو ټکو کښې
دومره غټ واقعات او پرانستي رازونه بيانول څه اسان کار نهٔ
دے . دا سے ښکاري چه پښتو افسانه د کمپيوټر په دور کښې
ننوتلو ته د داخلېدو د پاره د رومبئ کوشش دے او راتلونکي نسلونه به
بناغلے علي خېل درياب د دغه اختراع امام ګڼړي کوم چه د دهٔ
حق دے .

د ښاغلي علي خېل درياب افسانچے د نن وے افسانے مختصرترين
شکل دے د ايجې يوه نوے لاره ده . روپۍ که ورړه ده، په
تول پوره ده . په دے کښې هم هېڅ شک نشته چه د هر نوي
کار مرسته هم کيږي او مخالفت هم . خو د کار خلق د دے خبرو
پروا نهٔ کوي هغه د غالب خبره چه ؎

نہ ستائش کی تمنا ہے نہ صلے کی پروا

خوشحال بابا څه د مطلب وينا کړے ده . سه

د جاهل په خبره تش سربنوول دي
آفرين رم په خبرو دانشمند کړم

زهٔ د علي خېل درياب د دغے نوے اختراع او نوي کوشش
ته د قدر په نظر ګورم او دا رم يقين دے چه لوستونکي به دغه
انداز خوښ کړي په مينه به ئې اولولي او خوند به ترے واخلي .
زهٔ نورو زلمو او پېغلو ته هم دا بلنه ورکوم چه هغوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسمان نه سپینې پاغونډ ے راپریوتل شروع شول. موټر په داسې صورت حال کښې ګیر وو چه که په شا راستنیدلے نو هیڅ فائدهٔ ئے نهٔ وه او په وړاندے تګ هم ممکن نهٔ وو او زما کورته لا د یو میل نه قدرے زیاته فاصله پاتے وه موټر چه خپل پخواني چوک ته اورسیدو نو لاس پښے مو شل شوی وو او د ماچس لګولو همت مونهٔ شو کولے.

ما دغه پښتو ته واقعے ته د یوے افسانے شکل ورکړی چه د شپږ نهٔ جملو نه زیاته نهٔ وه او عنوان م ورلره — "دعوت او آفت" کیښود. دغه افسانه بیا د مارچ په میاشت کښې په ورځپانړه "باګنګ حرم" کښې چاپ شوه. دغه واقعے پس منظر صرف ما ته یا زما ملګرو ته معلوم وو. خلاے شته چه هغه ورځو کښے زهٔ په دے نهٔ پوهیدم چه ګنی دا یوه مختصر ترینه افسانه ده. خو ښاغلی ایوب صابر زما ډیره ډاډګیرنه اوکړه خو دغه افسانه اوس ما څخه نشته.

د پښتو افسانے یو انداز خو د ارباب رشید احمد خان دے او یو بل جدا انداز زما د خوښے او زړهٔ ته رانزدے شاګرد علی خیل دریاب دے ځکه چه په پښتو کښے دغه قسم ته نمونه دومره نه وړاندے زما د نظر نه نهٔ ده تیره شوے. ښاغلی علی خیل دریاب د افسانچو موضوعات هم ښکلیے دی او نوم ئے هم جاذب توجه دے. په دغه افسانچو کښے د یوے مکملے، معیاري او په تول پوره افسانے ټول خصوصیات او لوازمات موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړاندې شي خپله مورنۍ ژبه څو پېړۍ پخوانۍ بوټي - د پښتو روایاتو
په بنیاد د ادب ښکلې ښکلې عمارتونه او دروي ځکه چه په کوم ادب
کښې چه زمونږ روایات موجود وي هغه ادب به کله هم پردے نهٔ
شي همیشه به تروتازه او هر دلعزیز وي او په کوم ادب کښې چه نا اشنا
او بے جوړه روایات په زبردستۍ ځائے کړي شوي دي - هغه ادب
کله هم نهٔ خپلیږي او نه زمونږ د کلچر مستقله حصّه جوړیدے
شي -

علی خیل دریاب یو محنتي، خوش فکره، خوش شکله او د
اوچتو عزائمو زلمے دے ځکه په ما ګران دے - ما همیشه د خپلو محنتي
شاګردانو حوصله افزائي او لاربنودنه کړے ده او د هغوئ
په کامیابۍ رم د خوشحالۍ اظهار کړے دے —
علی خیل دریاب هم زما په هغه شاګردانو کښې شامل دے په
کومو چه زهٔ په ځائے فخر کولے شم -

دا زما یقین دے چه علی خیل دریاب او د زلمي کول بعضے محنتي او
خود اعتماده زلمي به د راتلونکي وخت د ادب د آسمان ځلند ستوري وي
او خدائے دِ کړي چه زما دغه دعویٰ صحیح ثابته شي - الله تعالیٰ د
د علی خیل دریاب په قلم کښې خیر و برکت واچوي - آمین

مُحمد الله کرے حسن رقم اور زیاده

ډاکټر ایم اقبال نسیم خټک

پښتو څانګه پېښور یونیورسټي

۲۶ ربیع الاول ۱۴۱۸ھ / یکم اگست ۱۹۹۷ء
ورځ - د جمعې مبارکه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غزل زلمي د
# افسانې په کهاله کښې

بناغلی علي خیل دریاب یو ښکلي شاعر، پوهه ادیب،
زلمی پوهان کلک ملګری، میلمه پال پښتون، فرمان بردار، کش
ځوان زړه انسان او ښه خوش نویس دی.
کله چې مونږ په امان دره کښې ادبي حلقې جوړې کړې
نو زما خوږو ونو ته د بناغلی دریاب نامه دیو شاعر په حیث
را اورسېده. هغه وخت دوی لا د سکول طالب علم وو. په
روميي ملاقات کښې دوی لکه دیو حیادار زلمي ماته خپل
شعرونه وړاندې نه کړل. او بیا چه څه ورځې زوسته
هم د دوی په تحریک مونږ خپل کلي کښې یوه اولسي مشاعره
جوړه کړه. او دوی پکښې خپل کلام وړاندې کړو. نو د دې
وړوکي طالبعلم په شا ماته یو ښکلی شاعر او پوهه ادیب
په نظر راغی.
د بناغلي دریاب د پښتو ژبې او ادب سره د بې کچه مینې
په سبب مونږ هم د دوی په خوښه او کوشش هیشه پښتو ادبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

رجسټرۍ امانډره جوړه کړه او تر دے مقامه مو راورسوله.

مونږ دواړه که د پښتونخوا هرے سیمے ته مشاعرے له

تلی یو. نو بناغلی دریاب د خلقو پام خپل غزل دے ته

راګرځولو کښے خاګخا بریالے شوے دے. ډیر ځله خو به

روانه مشاعره کښے خلقو د دوی د کلام نمونے هم غوښتی

دی.

یوه مشاعره کښے چه د پښتو نامتو خبرنګار پروین شاهین

د دریاب خوندور غزل واوریدو نو اعلان ئے اوکړو

"چه که دا زلمے د خپلو غزلو کتاب چهاپ

کول غواړی نو نیم خرڅ ورسره زهٔ منم"

او بیا په ډیره کړه موده کښے بناغلی دریاب د غزل

د اسے کوتلے تجربے اوکړے او لاکوی چه ما ورته د"پښتو

د غزل زلمے" اووے. ؎

چه دریاب ئے په سنګر د غزل پروت دے

ګڼ خو به بانډے خبرے ملاکنړ دے

بناغلی دریاب د شروع راسے د شاعرئ سره سره نثری

اصنافو ته هم پاملرنه کړے ده. د طالب علمئ په زمانه

کښے ئے په یوه ډرامه د یو پرډیوسر صاحب نه شاباس

هم اخستی وو او هغه بناغلی ترے هغه ډرامه ریډیو پاکستان

پیښور مرکز ته هم وړی وه. ولے د پښتو هغه خبره

"چه د کوم بچی د پلاره ئے پیسه نهٔ وی او د مورئے

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاسهٔ نهٔ دی هغه بچے سبق نه شی

وییلے .»

نن د ولسُ۲ کاله وړاندے چه ملګرے نوشیروان عادل د ورځپانړے جهاد پیښور د پښتو برخے نګران وو . نو ډیرو ذهنو لیکوالو سره څنګ په څنګ بناغلی دریاب هم ډیرے قیمتی ملغلرے پښتو ادب ته بخښلی دی . او دخپل اصل نوم سره سره ئے په قلمی نوم هم ډیر مضمونو نه چهاپ شوی دی .

هم په دے موده کښے بناغلی دریاب کافی افسانچے اولیکلے چه څهٔ پکښے په ورځپانړه "جهاد" پیښور ورځپانړه "وحدت" او اووهٔ ورځنی "هیواد" پیښور کښے چهاپ هم شوے .

د دومره بنهٔ افسانچو په لیکلو نهٔ یواځے ما په شا اوټپوؤ . بلکه نورو ملګرو ئے هم بنهٔ ډاډګیرنه اوکړه . دوستهٔ ئے د افسانچو سره سره ډیرے افسانے اولیکلے . چه څهٔ ئے په اخبارونو رسالو کښے چهاپ شوے او څهٔ لا تر اوسه ناچهاپه پرتے دی . ډیرو ملګرو صلاح ورکړه چه دا افسانے کتابی شکل کښے چهاپ کړه .

او بیا څه موده وړاندے چه د غزل زلمی یو ځل بیا د افسانچے په درشل پښه کیښوده . نو افسانچے د دوئ ځلنده فکر او بنیرازه ذهن ته تود هرکلے اووے . دا ځل بناغلی دریاب د افسانچے په سرخنه کولو ډیر کراؤ اوکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او څان ته د افسانچې په کهاله په هسکه غوړی وردننه کړو.

راځئ چه اوګورو چه د غزل زلمی دخپل فکر وفن څومره قیمتي ملغلرے افسانچې ته پیرزو کړی دی - او د افسانے په کهاله کښے ئې څان له کوم مقام پیدا کړے دے.

د بناغلی افسانچه نګار مشاهده ډیره ژوره ده. دوئ هم په دے معاشره کښے سترګے غړولی او هم دلته ژوند کوی څکه خو د ژوند په هر اړخ د سا نظر لری. او هر رنګ ئې پیژنی. د دوئ اکثرے افسانچې د دے معاشرے عام واقعات دی. چه دوئ پکښے دخپل فن په ذریعه زړونو راښکونو او نوے والے پیدا کړے دے. دوئ دخپل چاپیرچل دے واقعاتو او حادثاتو ته هیڅکله هم په جذباتي انداز نه دی کتلی. بلکه د واقعے، حادثے او کردار ډیر ژوره جائزه ئې اخستې ده. په خپله جذباتی، عملی، اخلاقی او ذهنی سرمایه کښے ئې ښه اغږلی دی. او بیا ئې ورته په افسانوی رنګ کښے د رنګ کړی الفاظو جامے وراغوستی دی. څکه خو دا افسانچې د مجلس ګرمولو سره سره زړونه هم ښه ګرموی.

په هره تولنه کښے داسے واقعات او خبرے وی چه د معاشرے غړی ئې یو بل ته په پس پسی کښے وائي. په عام مجلس کښے د هرچا د وړاندے د دغه واقعاتو ذکر هرڅوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهٔ شي کولے - خو د بناغلي درياب بے باکه قلم ورله په ډيرجرات
انداز کښے غوره الفاظ او مناسب علامتونه خوښ کړي
دي او په ډيره فنکارئ ئے د دغه واقعاتو او حادثاتو نه
پردے پورته کړي دي او نهٔ يواځے عام لوستونکي ته
ئے په ډاګه کړي دي بلکه په سوچ او فکر ئے هم مجبوروي.
دوئ کهٔ په معاشره تکوونه کوي - د پښتنو توهم پرستي
غندي - د دنيا بے ثباتي په ګوته کوي - د پښتنو د غريبي
يادوي او کهٔ د موجوده دور د مسلمان بے عملي په نخښه
کوي - نو د خپل چاپيرچل عکاسي په ډيره ښه طريقه
کوي - کهٔ د طنز غشي وروي نو د مزاح خوانږه هم خوروي
د خپل چاپيرچل ډير رشتوني واقعات او حادثات ئے د
افسانے په فن کښے رانغاړلي دي او د خپل کورکلي اصلي کردارونو
له ئے هم په خپلو افسانو کښے ځائے ورکړے دے لکه اخونزاده، ناصرخان
شيخ استاذ، ممتاز، توپک ملنګ، عبدولي، رحماني ګل او داسے نور.
بناغلے افسانه نګار يو اعلئ تعليمافته زلمے دے. د ګاقي
تاريخ سره سره په موجوده نړيوالو حالاتو هم ښهٔ نظر لري.
ځکه خو ئے ځينے نړيوالو واقعاتو، حادثاتو او ګاقي الميو ته د
افسانو رنګ ورکړے دے که "ورخته" او ماده پرستي ئے تاريخي
ښه لري نو "شپلونه"، "لبرل مائنډډ" او "ايمل کانسي" ئے
د بين المللي واقعاتو او حادثاتو ښکاره شاليد لري - لوتها د
ملکي سياسي کلتور په حواله ښهٔ کوشش دے -

(c) ketabton.com: The Digital Library

کهٔ د بناغلي علي خیل دریاب د افسانچو په فني ارخ نظر اچوؤ - نو د افسانے دپاره چه کوم توکي ضروري پکار وي هغه دوئ خپلو افسانچو کښے په خپل خپل تابین ځائے کړي دي.

د اکثرو افسانچو پلاټونه ئے د حقیقت او جدّت دواړو په کالو پوره دي - او په ډیر اختصار سره ئے ټولو عناصرو له په زړهٔ پورے ځائے ورکړے دے. کشمکش (SWSPENCE) او په تیره تیره (CLIMIX) د افسانے روح وي دا توکي بناغلي په خپلو افسانچو کښے د خوجملو په مدد سره اصلي مقام ته رسولي دي.

کردار نګاري هم د افسانے دپاره لازمي ګڼل کیږي - دد افسانچو کردارونه د خپل چار پیرچل سره سم او فطري دي. دوئ کله کله په یوه جمله کښے د کردار پیژندګلو کوي - او د خوبو سره سره ئے خامئ او کمزورئ هم په ګوته کوي. د کردارونو ژبه ئے هم خپله ده او نوم ئے هم د هغه کردار عکاسي کوي - ځکه کردارونه خوئے اصلي دي او د خپل کلي کوڅو نه راخستي کردارونه دي - ځکه خو د پلاټ سره منطقي تړون لري.

د بناغلي دریاب د افسانچو ژبه خوږه هم ده او سوچه هم - د کردار او ماحول سره سم الفاظ ئے راوړي دي - ډیرو علاقائي تورو له ئے ځائے ورکړے دے او ورسره ډیر الفاظ ئے داسے هم لیکلي دي چه خلکه ئے عوام وائي - هم هغه شان ئے

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیکلی دی . او دغه رنګ ئے یوه جمله کښے ډیر مطلب رانغاړلے دے کله کله ئے دخپل مقصد څرګندولو دپاره داشارو کنایو او علامتونو نه کار اخستے دے.

ډیو پښتون پوهان ویناده چه
" افسانه نګار دخپل فن په زور څه خبرے څرګندوی. او څهٔ لوستونکو ته پریږدی."

بناغلی دریاب تقریبًا ټولو افسانچو کښے هم داسے کړی دی. لوستونکی ته تیاره نوړئ نهٔ ورکوی بلکه هغه په دغه واقعاتو دپوهه کیدلو دپاره په سوچ او فکرمجبوروی او هغه بیا دخپل ذهن او فکر مطابق دغه قیصه وړاندے بیائی . او دغے په حقله خپله رائے قائموی . د ځینو افسانچو مقصد ته درسیدو دپاره ځو ډیر سوچ پکاردے محترم همیش خلیل هم د بناغلی دریاب په دے کتاب په خاسکړی ډول نیکل کړی دی او دخپل علم و فن په ذریعهٔ ئے دد ے افسانچو ډیره ښه تصویر کشی کړے ده . ولے بیاهم ډیو ے نیمے افسانچے مقصد ته نه رسیدلے .

دافسانے دپوهانو په خیال دافسانے دپاره لنډوالے ضروری دے . ولے خاص حد ئے مقرر ول ګران دی . ځکه چه کهٔ بے مطلبه جملے او خبرے د افسانچے په اوږدو مبار جوړیږی . نو تاثیر وحدت ته هم زیان رسوی . په لنډوالی کښے خو دبناغلی دریاب افسانچے خپل مثال په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي . د شمير په څو جملو کښې ئې ډير څه بيان کړي دي.
يعنې دا افسانچې په معنوي لحاظ د جامعيت ښکلي شاهکارونه
دي . هم دغه وجه ده چه د ے افسانچو کښې تاثير وحدت
قائم ساتلے شوے د ے .

ښاغلي افسانچه نګار خپلو د ے افسانچو له دا سے سرخطونه
خوښ کړي دي چه د مرکزي خيال په پوره توګه عکاسي
کوي - اکثر سرخطونه ئې قيصے ته خلا ښځيني او لوستونکي
نظر ځان ته راکاږي او ذهن ئې قبلوي -

د د ے افسانچو آغاز زړه راښکونکے د ے او په ډيره
اسانه لوستونکے ځان سره روانوي او هم دغه رنګ ئې
د افسانچے انجام د ے - چه مقصد ئې اکثر په يوه جمله
کښې رانغاړلے د ے - منظرنګاري هم د د ے افسانچو خاصه
ده . کله کله خو په يوه جمله کښې پوره پوره منظر
بيانوي او کامياب منظرکشي کوي -

د ے افسانچو کښې چه ښاغلي درياب کوم انداز خپل
کړے د ے دا د دوئ ځانګړے اسلوب د ے . دوئ د ميچا
نه متاثر نه ښکاري . ښکاري چه نور زلمي پيغلے دا انداز
خپل کړي .

د ے افسانچو کښې ښاغلي افسانه نګار د پښتنو د کلي کوڅو
واقعات حادثات ، توهمات رسمونه رواجونه ، دودونه او
قدرونه په اصلي شکل کښے وړاندے کړي دي . او په ډير

(c) ketabton.com: The Digital Library

جُرأت سړئ د پښتنې معاشرے ځانګړي کمزورۍ او بدۍ هم په ګوته کړی دی.

"دا افسانچې د پښتني کلتور او فوکلوري عناصرو بشپړه نندارتون نه دی".

د افسانے د انواعو په حقله چه پوهانو څومره قسمونه بیان کړی دی هغه تقریبًا ټول په دے افسانچو کښے په نظر راځي. که کرداري افسانچے لري. نو واقعاتي او ماحولي افسانچو له ئے هم ځائے ورکړے دے که دے کتاب کښے علامتي افسانچے شته. نو په نفسیاتي کشالو ییسکلي افسانچے ئے هم شاملے کړی دی. د اکتاب تاریخي افسانچے هم په خپله لمن کښے لري.

د افسانے یو خارجي پوهان هاتهرون وائي.

"افسانه نګار د افسانے په ذریعه د خپلو لوستونکو په ذهن کښے یو اثر پریښودل غواړي".

زما په خیال بناغلے دریاب دیو کامیابه افسانه نګار په حیث دغه اثر نه یواځې د خپلو لوستونکو ذهنونو ته رسوی بلکه په سوچ او فکر ئے هم مجبوروی".

زلمي دریاب د پښتو افسانے په کهاله کښے نوی او پاخهٔ بنیادونه کیښودل. خدائے دی او کړي. نور پښتانه زلمي پیغلے په دغه بنیادونو ښکلی او لوړه ماڼۍ اودروی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پښتو افسانه د عصري غوښتنو سره سمه مخ په وړاندې بوځي.

ښاغلی دریاب که د "غزل زلمي" دی نو د افسانې په کهاله کښې د چرګئ د برې غاړې سړی دی.

خدای دې دوي په ذهن او فکر نوره رنګيني خوره کړي او په قلم دې برکت شي.

میاں فضل الرحمان شاهد
صدر
همیشه پښتو ادبي ټولنه رجسټرډ
امان دره ملاکنډ ایجنسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دنيا ليونئ

د احساس بوتږئ ښکاره د ليونئ دنيا دوه مشين
چرته يو ځائے کيږدو ته پريږدي . ځکه نو
ښه به داوي چه مونږ ديو بل نه داسے ورک
شو چه دادنيا مو په لټون لټون په بله
داوړي . بيا به که خيروي مونږ
سره يو ځائے کيږو ......
عمرونه اوشو چه جانان
ګلپانړے ته داسے وئيلي
وو . مخوئ هم هغه شان
ديو بل نه ورک دي
ولے دنيا هم
هغسے ليونئ
ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاورے

څانګې .... یا څانګې .... د اسپرلے وږے

وږے . سرپیه ! د اتهٔ ګورے نه

چه خاورے خوری .

اُفـو ! پرین ده چیه

خوری کنه . زموږ پـه

کالهٔ کښې بے د

خاورونه

څهٔ

دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جرم

هغه‌ئن ډیر بې توله خپلې وو ......
دستر ګو نه ئې اوروسته وریدل . دغصې یو
شین تندر وو ، کوم ته په رانسوتو
ئې دیو بوئې جرم زلزلې راواستې
لګئې که ئې د بنځوالئ د قیده
خلاصه کړه خوځان ئې د
پښیمانئ په زندان
کښې ټول عمري بندي
کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکوټ میرمنې

زما نیا ډیره ساده ښځه وه . چه کله به ورته څه سخته
راپېښیده نو چغه به ئې کړه "چه دکوټ میرمنه دارسیږه"
اکثر چه ما به اکثر منع کوله . ولې دا دمغې عادت گرځیدلې
وو . نو یوه ورځ چه مغې په کټوۍ کښې سپټي
نوټکول او پټې د تاوُ له وجې په موړکو
داوپیدل . نو نیا م چغې کړې چه "دکوټ
میرمنه دارسیږه" . او په دې کښې د برسې
دکوټ نه یو توټې منږک په کټوۍ
کښې راکیل شو . نیا ته م او وې
چه دکوټ میرمنې را اورسید
مغې ما ته غصّه غصّه
کتل او ما په کټوۍ
کښې بېت ختلی
دکوټ
میرمنې
ته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مات منګي

لوګي - کشاله په خمار کنبي اخستي وه - چرته ئې راوبنکله
ور روان شو .... اورو غونډ مې ئې اوویل - یره
کۀ نن هم کشالې زما د پاره لو خوا ښتا تو د
تتلو تو هڅه او کړه نو قصّه ئې تمام مومه
...... او څو چې هغه کشالې ته
رسیدو نو د سینډ په غاړه هغه نن ۀ
وه خو د هغې مات منګي په دا ے
حالت کنبي پروت وو ، ـــکه
چې د کشالې د پښتو په
سندرو کنبي د لونګ
په نس پرستۍ
پورې به
بق بق
خاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پردۍ سترګے

آخر د استا خلے له راتله څنګه ، ځکه چه ما خوستا

د مینے په خاطر د وینے تولے رشتے قربان کړے

او تر دے چه د پلار د ماله ږم هم لاس اووینځل

خو نهٔ پوهیږم . چه پردۍ سترګے دِ

اولیدے نو څنګه دِ په دوغ زړهٔ

او دے چه

مینه په تلو راتلو زیاتیږي

مونږ کره مه راځه زړهٔ د صبر ټینګ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما په زړه باندې بلا بلا راووېدې

يوه پنځه شپږ کاله وړاندې چې زړه لا په لوښو ووم ـ او ته به
ښوانه ، نرمه ، ګرمه ، بنا ئسته او ښکلې وې ـ هر کله چه
به زما سره په کټ کښې يو ځائې شوې او ما به ځان
ته راجوخته کړې ـ نو بيا کله به واوړې وريدې
ولې تا به په لږ ساعت کښې زما خور خور زړه
راتول کړو ـ او د الله هو په خوږ لږ
به د په قلاره دخوب تکوروته
راګړل ـ خو نن چه زړه ستا نه ډيرلرې
په مزدورۍ پسې را ورک شوې يم
ستا نه بغير په سوړې سوړې
شادر کښې د ژې او به ډ شپه
د ه او شړق باران د ے ـ څه که هم اوس
ته هغه ښکلا ، بنا ئست ، ګرموالے
او نرموالے نه لرې ، خو بيا
هم زما زړې برستنې زما
په زړه باندې بلا بلا
را اوورېدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماده پرستي

دا يوه دا سې بې سترګو بلا ده چه کوم ځواک
کړي . نو بيا د دنيا هره رشته او خپلوي په
يوه تپه کوي.او هم دا وجه ده چه د
همايون ماده پرستۍ چه کامــــــــران
را او نيولو نو سترګې ئې ورله په
تو دو سيخانو ړندې کړې.ترا وه
نيمبوان ئې پکښې بخوړه کړل
او بيا ئې په مجاز کښې
داجل فرشتو ته د
لاس ښنبو نه
وسپارلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نازولے جذبے

چرته چه د خواهشرے سر لړے جذبے د تيکاؤخوبه
غيبږه بيا مومي - نو هلته بيا د مينے دسيځلو
جذبو احساس په زهـــرو کنبے لامبـل
شي او که دا سے نهٔ وے نـو
سنبل بـه هيڅکله هم زما
نازولے جذبےدا سے
په بےدردئ
نهٔ قتلولے

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یقین

بریښنی دی دچا — ؟ بریښنی یم د تورسپی - بریښنی دی

دچا — ؟ بریښنی یم د زوړهندو . بریښنی دی،

چا -! بریښنی یم د تورے کچے هلته اینګر اکا —

مالی ماما دموږ — او دلته سپین دا ماته

ښکیا وو . هغه بریښنی دمونږ پښے دے

زه خو پرے ډاکټرانو دماله خلاص کړم

— بنه یم خو چه لږ زور اوکړم.

نو بیا یم دیو خدایه وی . ما د

سپین دا خبره زړه ته واچوله

خوشحال یم مالی ماما

اولید چه په دوه لاسی

په جنګ کښے

ستبر

دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نورے

شرق باران دے - د مازیګر موخونه شوی دی. کبل کاکا
په پنډو ستړګو پښیځ ابله راروان دے. او چه زما په
بنګالو پوه شو. نو په زوره ئے اوویل ،
ته ګوره ! ظالمان دخدائے د کوره هم غلا
کوی - " ما ورته هیڅ هم اونه ویل
ځکه چه لږه شیبه وړاندے م د
دکبل کاکا زوئے نوزمے اولیدو
چه د چهترۍ او څپلوسره
د پوړو .په تکل
بازار ته په
کړه

- دو -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# متېزه

که یو پله په هغو دواړو خوېندو د بنګلا کانو سپړلی

دیره وو - نو بل پله د حیا او درنو خوینو په

کالو هم بنائسته وه - ولې په ټول کلي کښې

ورته هیڅا هم تن نهٔ ایسېدو - ځکه چه

مورئې په پلار پسې متېزه راغلې

وه - ترڅو چه بې نکاح وه او د اشناق د پلار د مور

د خطا په جهنم کښې دوئ

په عذابېد ے ، ولې

بیګاه چه شومه دم شوه

نو هغوئ د دغې جهنم

نه د خلاصي لاره

او مونده او دیو

تیا کلي منزل په

لور د کوزه

او وتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زهر ژنه پوټه

په تکه توره تیاره کښې چه عکرمے د شوتلو پنډ په شا کورته
راننوتو نو شمکئ ورته سپکه پاسیده . پنډ ئې د بیزے
مخے ته اوغورځوو - او خپله په کټ کښې بوړ بوړے
پریوت . شمکئ ئې هم تر څنګه پریوته . لږ ساعت
پس راپاسید . یو څو قدمه لاړ - او بیا کیناست
یو لاس ئې د هغې په سپین مهین وجود په قلاره
قلاره ګرځولو او بل لاس کښې ئې د هغې "تی"
را اونیول . کله به ئې ورله په یو
"تی" زور کړل او کله به ئې په بل
دغه رنګ کله به ئې د هغې په
نرمے او پستے خیټے لاس اووهل او کله به ئې خپلے سینے ته
راجوخته کړه . آخر شومه دم شوه . او عکرمه هم اوده شو
خو سحر چه هغه د خپلے بیزے نه د پیو اخستو په غرض وراغے
نو نه ئې خو په هغه وجود کښې ساه وه . او نه ئې په
هغه "تیو" کښې پیو وو په کومو چه هغه
بیګاه لاسونه وهل . بلکه د غلا په
زهر ژنو دارو پونه شو شوتلو
هغه د عکرمه نه مروړ
کړے وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتانهٔ

دبیوتي پالر نه چه راغبرګیدلو نو لاره کښې
ټریفک جام شو - دے کښې یو سپین ږیرے بچوړې
په لاس زموږ موټر پله راغلو ، وئیل ئې .
"خان ! بي بي ته بچوړے واخله کنه - مام
کورودانے ته اوکتل چه وینښتهٔ ئے زماد
وینښتو نه هم وارهٔ وو - هغه مسکئ
شوه - ماهیڅ اونهٔ وئیل - البته
سپین ږیری په تلوتلو کښې
اووئیل - یره هغه پښتانهٔ
خاورو او خوارهٔ چه
وئیل به ئے - د
ښځې په ناوُ
خهٔ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# برنده خاموشي

سر! زه هم د دې ډیپارټمنټ ریګولر سټوډنټ
یم . زما اکیډمک ریکارډ ستاسو د وړاندې دې . د
یونیورسټۍ ریکارډ هولډرز نه علاوه زه ګولډ میډلسټ
هم یم . ولې د ځپل اپیل استاد برنده
خاموشي ماته لکه د غنچې په څیر په
سلو ټبو ګویا شوه . چه هغه په
مات زړه د یو خاص سیاسي اثر لاندې
د یو تهرډ ډویژنر ارډر اوباسي
او هم دغې ارډر زمانه زما
د حق سره سره ، زما
د سر سیوري هم
اوتروړلو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیبرل مائنډ

آزاد خیال - روښن خیال - لیبرل مائنډ

جوادخان د انګلش پروفیسر چه په ورځ را د ننه شو

نو ځپل نابالغه زوئے او لورئے لغړ سوغړ

په قابل اعتراض حالت کښې اولیدل - د

پښو لاندے زمکه ئے اوتښتیده - لغړ کوټه

ته لاړ - او کلاشنکوف په لاس

را اووت - په ځائے د دے چه د

خپلے آزاد خیالئ قتل ئے کړے

وے - په چت ولاړ ړه

وش انتینا ئے په ډزو

سوړ سوړ

کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بنا پیرئ

بیګاه چه لس بجے کورته راورسیدم ، نو
نیجے راته داحمددین دمرګ روح چیچونکے خبر
واوروو - یره ! غریب داخلوښت کاله
دیو ژور نفسیاتی کشمکش په کومی کښے تیر
کړل - چرته فالی ورته ویلی وو - چه
چه په تا به بناپیرئ مئینیږی - ځکه
نو وادهٔ مهٔ کوه - او هم داوجه
وه چه دخپلو خپلوانو او
یارانو دوستانو دبیا بیا وینا
باوجود هغهٔ وادهٔ نه
غاړه کیښوه - مئین
مړشو - خو بناپیرئ
پرے مئینه نهٔ
شوه -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نزوبه تومله

څه که هم جان ورپسې په تلو راتلو خپلئ

اوشلولے ، خو "رنړا" د سحرکورته ځي

توت خوړلے وو . اودا څکه چه

د جان ژوند بخښونکے تومله

د هغه بےسره ځوانئ

نزوبه کړے

وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوټا

ماچه هم پیس ته داوداسے د پاره لوټا سمه
کړه - نو راته ئے اوفرمائیل چه زما لوټا په
خلوت خانه کښې ده - هغه راوړه - ماچه ترې
د خلوت خانے د لوټے راز اوپوښتلو - نو
وے فرمائیل ! دریاب خانه د هرے
لوټے نه خوخوک ستړنهٔ ماتوی کنه.

ما هم د پیر د حکم تعمیل اوکړو ولے
فکر یو هم چه زمونږ د ملک د هرے
سیاسی پارټۍ مثال خود ځان
خرخوړنکے رنډۍ دے چه
د هر لوټے نه د خپل
ځان او کاله
ستر
ماتوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جامے

زهٔ د وادهٔ قائل نه یم ځکه چې د انسانی ذات تښمین
د وادهٔ نه بغیر هم کیدے شی - عمران به اکثر د ښیا
ولے پرون زم په سره غرمه کښې لغړ سوغړ او یدو
چې کور یله په منړه وو - دوسته خبر شوم
چې د ترکانړی کره به بدنیتۍ اودختے
وو - اودهغهٔ زامنو تر جامے
اوبنکے وے - ماغوږدونه سیره
کړه - اویقین نه زم پریوته
چې به رشتیا ښځے
د سرو د پاره او
سړی د ښځو
د پاره جامے
دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرپاڼه

زرپاڼه او ملال که په یو بل ورک یوني
وو خو په زر زري شال کښې د زبړې شړۍ
پیوند چرته ځائیدو او هم دا وجه ده
چه ملال که د زرپاڼې نه شو، خو
د هغې د واده نه څو شپې وړاندې
ئې د زرپاڼې د غوښتنې سالو
ته هغه څه ورته کوهل
چه د ګناه زهر ئې هم
لرل او د ثواب
خوشبوګانې
هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بدل

خانیه زهٔ ستا د ناجوړه پلار خدمتونه نهٔ شم کولې. ترڅو
چه ځغه په دغه کور کښې وی . نو ماله ویله ـــ
او ـــ دا زما آخری فیصله ده . ماسختن شو خو
د خاڼ په مزغو کښې د ښځې د دې رټلي جواب
غوښتلو جوړ کړې وو . اوس تیاره
شوې وه . پلار ئې په شاد سیند
غاړې ته یوړو . خو چه سیند ته
ئې غورځوو . نو پلار ورته
اووې ! بچیه ما د دغه بړ کس
نه سیند ته اوغورځوه .
ځکه چه ما هم د پلار نه
د نیکه بدل هم
د غسې اخستے
وُو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګانړۍ

کلي کښې کهٔ به دچا خپل پټي وو اوکنه ، خوګني
به ئې دعظيم ګل ګانړۍ ته راننوستل، او
هم دلته به ئې ګانړۍ کول ، ولې د
حيرانتيا خبره خو دا وه ، چه کله
به پټي تيار شو . نو دکلي
يوکس به ورته هم نهٔ
رانږدې کيدو - بلکه دا
به عظيم ګل په يوازې
ځان خپل پټي
ګانړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې علمي

انون ناصرخان زانه نن مازيگر اووے - ماسټرصاحب - بيګاه
نو دوېرے نه هم يم - ماوے! اخونه څنګه ؟ ويل ئې زمکه د
تانبې وه، نمر نيژور وو - ويشيدلے اوبه رابنګې وې او ملک
دخرو نه ډک وو - ما پوښتنه اوکړه چه نو رخولا نو
دى ولے دادومره خرۀ څۀ کوى ؟ جواب راغے
چه دا بے علمه ملايان دى - اوکۀ يقين دِ نۀ راځى
نو د ځان نواته داولاړ خر دغوږ نه
راکاږه چخېله به پوهه شے ما هم غوږ اوکړه
او چه څنګه م خر د غوږ نه راکاږو
نو مولانا صاحب چغے کړے، پريږده
- پريږده - ظالمه مړ دِ کړم
- ما چه ستر ګے اوغړولے
نو نيمه شپه وه -
زما لاس وو - او
د مولانا صاحب
غوږ وو - توبه م اوويسته چه زما د
ځلوينبتو کالو استاد او بے عمله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډولۍ او جنازه

د اغُل چې منير درے مياشتے پس هم کور ته رانغے.نو
چنار اُکا لپے خپله بنار ته لاړو . ولے مازيګر د
بم په يوه چاوَدنه کښے په حق اورسيد . او
سحر چه منير د کاميابے بم چاودنے نه
پس ډک جيبونه د کلي په کنډوَ
راوړيل ، نو د بم په چاوَدنه
کښے ئے د پلار د مرګے خبر
هم واوريد . هغه خو به
په دغه پيسو خپله
ډولۍ راوړی - ولے
د پلار جنازه
ئے اووړه ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حرمونے

دالسمه رشته وه چه د "پری" دپاره راغلے وه،
خو بیته نشته چه جمال اکا ولے غاړه نه ایښوده
په هر طور بیا یو وخت داسے هم راغلو
چه په "پری" پسے د رشتو راتللو
تمبے پورے شوے، او نن د سحر
دموځ نه پس جمال اکا هغه
ماشوم کورته ننه ویستو
کوم چه لږه شیبه
وړاندے هم ددے
کوره "پری"
ویستلے

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګړنګ ګل

سنګین دیوشتمند پلار نیازبین زوئے او بانو
دیوے بے وسه مور غریبه لور وه - څه کۀ
هم د بانو د ارزوګانو مرکز سنګین وو. ولے
هغه د خپلے ترلے دپاره د تاترے دیو
در سے ګړنګ ګل وو - چه هغے ورته
د حسرت د تاترین نه کتلے شوه
نو خپلو ئے نۀ شو - او
عن چه د غه ګل وختونو
د خپل روایتی جبر
ترمخه په یو
بل اوربل
کښیے
اوتوبلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرتوغابښ

زهٔ چه په ډاګ ورښکاره شوم نو هغه دکور مخےته په
ورهٔ ناسته وه - چه زهٔ ئے اولیدم نو پرتوغابښ ئے په لاس
کښے اونیوؤ - مسکئ مسکئ کیده او په پرتوغابښ ئے لاس
رقول - زهٔ ورو ورو ورنژدے کیدم هغے کله ماته
او کله پرتوغابښ ته کتل - عن چه زهٔ
ور اورسیدم او هغے زما لاس تش اولیدل
نو کړکیچ ئے گذار کړه - وے خهٔ!
نهٔ کوم درله پرتوغابښ' او په
ژړا ژړا کورته ننوته. ولے
زما داحساس پښے ئے شلے
کړے په دے چه

سه

منم اختر دے خو غربت م قتلوی بچیه!!
تالد یه خهٔ باند بنګړی پہ خم نګریزے راوړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیسے

شمشیر لاله
چه دستور فقیر په زیارت دُعا اوکړه
او راوتلو - نو خوا کښې ولاړ یو ماشوم
وژړه اووے .

کاکا په بابا پیسے کیږ ده کنه ـ
شمشیر لاله یو سوړ اسویلے
اوکړو او ماشوم ته ئے اووے
ځار شم ، زړګی ځو
خپله د بابا نه
پیسے غواړم نو
خفه پړے
کیږ دم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اعتماد

هـئ ـ ـ ـ ـ هئ ـ ـ ـ ـ زما کور ودانے په

ما وپېره مېنه وه ـ او هغې چرته زغملې

شول چه زۀ دِ دهغې په امانت کښې

ذره برابر خيانت او کړم ـ ولې زما

دخواهش نوکارو چه دهغې داعتماد

نازولے ګونه شو کے پو کے

کړه ـ نو هغې خوځان

مړ کړو ـ ولے زۀ

ئے دا سے پرېښوم

چه نۀ مرم

او نـه

ژغېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څرکندیونې

څرګند یونې نهٔ وو- خو چه زړمے زوئے ئے د شلمے پیړۍ
یارانے د مهو خوراک کړو - او دغه د سینه وچولس
هره ځته شنړے شوه - نو سودائی شی- پوره
یو کال پس چه سینه د ضروری مرمت د پاره
وچ کړے شو - او یو سړی څرګند
ته غوږ او کړو چه راشه که مهیان
نیسے - نو مغز په تشو لاکینبوده
او تر لرے لرے پورے ئے وچ شوی
سینه ته او کتل- ما دا سے محسوس
کړه چه دغه ژړغونے سترګے
پکښے هغه ورکے سترګے
ګوری- کوم چه
بے سترګو یارانے
په اعتبار کښے
پناه کړے
وے.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# متهاکی غوز

دکلي ساده جینکۍ د خپلې دروغژنې مینې په نوم کېږې
کېږدول ـ هغوۍ د وختي خونو اختلو په غرض دوکه
کول ـ ادبیا ورته د ځان ته متهاکی غوز جوړول. د
رمظم خان دکس لاس کار وو ـ ځکه چه یو
که د هغه غوږ غوړۍ بسه وه ـ نو
بل پیسه هم ورځنه وه ـ ولې
پروین په هغه جینکو کېنې نه
وه ـ کله چه هم اعظم خان
ورته د ځان ته متهاکی غوز
جوړ کړو ـ نو هغې ورله
د رسوائۍ یو داسې
درو ند کانړ راواچوۀ
چه هغې په مینځ
دو ټه
کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوکري

دصوبیدار کاکا سړه سم نوې رابدل شوې وه اکې هم بیک
اولوستلو - او ورته ئې اووے - کاکا - مبارک شه، که
څه منبسته دِ کړې وې نو راځئ ئې کړه چه ختم ـــ
صوبیدار کاکا دَ خوځئ دَ نوکرئ دے آر ډر ته یوسو په
اسویلے اوکړو - او وے ویل ـــ
" څو انه زمونږ په ملک کښے د پریو تے
طبقے دپاره د نوکرئ مثال د
نشانِ حیدر دے چه په ډونئ چاته
نهٔ ورکوو . دے کښے یوسړے
د بهر نه راغے او وے ویل
صوبیدار صیب لاس
به اوچت کړو چه
خدائے ستاسو
بچے اوبخښی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باور

---

دباور په مزغو د وی. سی. آر فلمونو دومره ناوړه
اغیزه کړی وه چه هغهٔ ته ځان د فلمی دنیا یو
ستر هیرو ښکاریدو. او هم دا وجه وه چه هرځ ورځ
به ئې کلالئ ته د تختو پل ینولے وو. ولے نن چه
هغه د سکول نه راتلهٔ نو ده ورته په یو دیر
ښکلی فلمی انداز کښے دخپلے ناقراره مینے
اظهار اوکړو. هغے دیوره خاموشئ نه
پس اووئیل "باوره باور م نشئ
او بیا ئے دپل لاندَے غوښیدَنکو
چیو ته اوکتل وے د
هغے باور هله اوشو
چه هغه دیو ئے
فلمی هیرو
پښان
ځان دغه چیو ته اوسپاری او خاڼزه ئے هم صحی نهٔ
شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غانړکۍ

وړوکوالے بادشاهي وی . ثابته غرمه به م هم

دلته ددے ادیرے په لاره غانړکۍ نیوے

او مازیګر چه به په لوبو بنه ستړے

شوم نو غانړکۍ به م پریښوے

ولے مو دے اوشو ے ، چه

هم په دے لاره یو ے

غانړکۍ زه رانیولے

ټیم په ژوند

م لوبے کوی

خو پریږدی م

نه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تَلَهٔ

بابو صیب ... یه بابو صیب ځان اوتلئ کنه - خو زما په انګار
چه هغه په ژړا شو، نو ما ترے تپوس اوکړو چه ولے ژاړے؟
وئیل ئے دا دمے تهک ماښام شو او یوکس هم ځان اونهٔ تللو
زهٔ چه دا سے تش تور کینږدئ ته لاړشم نو بیا زمانه
زیات زما وارهٔ ورونړه ژاړی . زهٔ بے کچه خفه
شوم او ځان تللو په غرض چه څنګه تلے ته
دراوختم نو خوا کښے ولاړ یو فقیر ګویا
شو . ځانونه په دے تله مهٔ تلئ
بلکه د عمل په تله ځان اوتلئ
ما فقیر ته اوکتل بیا م ژړغونے
ماشوم ته او بیا په باغ ناران
کښے هغه بے شمیره ورونه
په یو بل اچولی
لاســـوـــنه
ګرځیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انډيواله

ټچيرکه ډير غوښتل چه هغه ږ دجمعے سره مونځ اوکړي.
ولے خلقو نهٔ غوښتل چه ټچيں ږ دهغوئ سره په يو
صف کښې اودريږي. اوهم دده سره ناروا سلوک احساس
په هغه اکثر جمات ته دراتلو نه ژغورلو
نن د اختر په ماښام کښې زم اوليدو چه د
ټولو خلقو نه شاته زمونږ دکلي مشهور
ميجرلا "نيکی" سره اودريدلو خو چه هغه
ورته هم صف پريښود، نو دجمات په
وروستي صف کښې ولاړ ملک صيب
ته ئے بد بد اوکتل
او را اووت ، دبيلے شي
چه د ټچيں مور هم
دغه ملک صيب
انډيواله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زړه رنړا

کچکول خیل ټول عمر په پیرئ مریدئ کښې تیر کړو. وئے
دغو په تربیت کښې څه خاص نه ملرنه او نه ئې کړه. پرون
ئے دوه زامن په غلا کښې نیولے شوی وو. بیګاه چه
مونږ ماسخوتن تیر د تانړې نه واپس شو. نو ما
ورته اووے "چه ما سره نه پاتے کیږې. او
خاخاځے. نو اوورېږه چه څه رنړا خو درته راوړم.
ویړتیاره ده". هغه وښل پریږدوه. زه
د زړه په رنړا ځم او رخصت شو
سحر "سباوون" راغله. وښل ئے
کچکول بیګاه نالۍ کښې راپریوتے
دے. پښه ئے چورلتی ده
ماته ده. او هسپتال
کښې دے. ما وے، بښه کچکول خو وے چه
زه د زړه په رنړا ځم .......

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورورى خورى

دسمبر بانګونو ته څه وخت لا پاتې وو . زه د لامبلو په غرض
چاپ ته روان وم . خو د تيارۍ له کبله معلومه نه ده . څو
نه ښکاريدم . شير و عبدل ته اووې ، هلکه ستا
وارۀ خو ډېلار کړه لاړ دى نو دا بيا ولې چاپ ته
روان يې . پرين ده زوره وره ! ډيارى " دکوره
راغلم . استغفرالله او هغې ته چه تا خود
ويلې ده . نو څه اوشو . ورورى خورى
به کوو خو حساب کتاب به يې ترمينځه
دى . عبدل دا او ويل او
به چاپ
ورننوتو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تپوس

مماڼزے چې نن جميل صيب ته د سپږغے د غابنونو راختلو
زيرے واوړو ، نو ورته ئے اووئيل چه دے له د
دردونو دوائي هم پکار ده - مغه اول ببرسر
او اوبڼد حجامت ته اوکتل - بيائے په
خپل تش جيب نظر واچوؤ - او دیو
سوړ اسويلي نه پس ئے اووئيل
" سپږغه چه غابنونه
راوباسي نو مانه هم
تپوس کوي
اوکنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دزړهٔ غوښې

هغه هم وختونه وو چې زما غېږ ته به راغلې - ما به دِ دنړۍ
ملانه دواړه لاسونه تاوکړل - په ګېين ګېين کوکۍ به
م دګخله کېښوده او ته به په سترګو کښې
مسکۍ شوې زهٔ په تا مئين وُم - بې کچه مئين.
په دې چې زما د زړهٔ غوښې وې. وې
ن چې په تا د ځوانۍ سپرلي خواره
شوه - نو ته په بل مئينه شوې.
زما په مخ دِ د بدنامۍ تورکاري
راکاږل - زهٔ دِ سپرېښوم
او د بل سره لاړې
مئم! چې مينه
ګناه نهٔ ده
نو خپل سېځلي
اقدار چقول
هم ثواب
نه
دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بکرو باباجي

ماچه سکینه تور په سره غرمه په پردی کلی کښې اولیده ـ نو
پښتنه مې ترې اوکړه چه تور خیر خو دے کنه ؟ ـــ
وئیل ئې خیر چرته د بې دغه ایکی یو للې مې دواو
هغه ئې هم د تورو تمبو شاته کړو ـ دے
بکرو باباجي له راغلم چه څه تعویذ
راله اوکړي ـ ډیر میړنے دے ـــ
سم تک پرې وی ـ سبا ئے به
مې زوئے راخلاص وی ـ ځکه
حیران شوم ـ ولے زیاتحیران
په دے شوم چه هم
په دغه وخت بکرو باباجي
پولیسو په مټکو
کښې بندیوان راروان کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حرام

داریډیو پاکستان دے او تاسو خبرونه اورئ . نن په اسلام اباد
کښې یو پښتانه وزیر د بډو رشوتونو او کرپشن په کیسونو
کښې گرفتار کړے شو . ویلے شي چه د دهٔ اسونو ته
به د منړو او شهدو مربے ، کچُ ، بادام او سوچه
شودهٔ ورکولے شوهٔ ...... د دے خبر
په اوریدو ملنګ مستری د دوړی نه پاسیدے
— او نګیا شو ، ته گوره په موږ
گزگز خاوره پرته ده . موږ خو د
لږے خورو - او د دوی اسونه
د دا خوری - نو گورے چه
دوی به پخپله څهٔ خوری؟
نعمت دیاړی مار ملنګ مستری د لاسه اونیوهٔ
د دوړی نه ئے کینولو . او ورته ئے اووے .
استاد که معنوی هر څهٔ خوری نو حرام خوری
موږ که لږے خورو او که کولیے . نو شکر دے
حلال خو دی کنه . ملنګ مستری
توبه اووئیله او بیا په کاسه
کښې د لړی سره په
پړزولو شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګناه

دانځو د لوئے ښبتن ځوښنه وه. سلنۍ
که ډیر غوښتل چه د هغے غیږه دِ په نارینه
اولاد ډکه شي . ځو د هغے دهي تدبیر
پینبے به د تقدیر په توره غوځیده.
او ځن چه سلنۍ ئے د ښنتون
په زنځیر او تړله - ځو
نن هغے هم دا سےګناه له
غاړه ورکړه چه د
هغے نه پس د
توبے تمبے
پورے
وے

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ؟

زما نشي ياد چه هغه ګڼي زما د حجرے نه بل پله تلے دے. سږ
ددے چه ما پرے د غصے تندرونه درولی دی. د هغے م
دے. ربتلے م دے او عن چه شړلے م هم دے. خو
هغهٔ خاطر نهٔ دے درونډ کړے. بلکه د ديو
چمتو خوکيدار په حيث ئے د ژمی اوږدے اوږدے
شپے زما د پاره روښنے کړی دی. زهٔ ئے
د ژوند تر آخره ورځ پورے خپل مالک
ګڼلے يم. او زما په زړهٔ ئے د خپلے
فرض شناسئ، خودداریٔ او وفادارئ
ژور ځاپونه پرېښی دی.
ولے د افسوس خبره خو دا ده
چه ما د خپل مالک درپرېښے
دے. خپل فرض م لا
تر اوسه نهٔ دی پیژندلی، د خودداریٔ په ګردنهٔ
یم ککړ، د وفادارئ بوشنک نهٔ لرم او ترننه م
د خپل مالک د پاره یوه شپه هم نهٔ ده
رڼه کړے. خو اوس تاسو
او وائی چه زهٔ ښهٔ یم
کهٔ زما خـــرد ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رویدلے بیاسته

کوهیان ویستل که د سنګرې کار کسب وو نو کوهیان
ډکول هم د هغه نفساني مجبوري وه او داسے به ډیر
کم کورونه وو . چېرته چه سنګرې کوهے
ویستلے وی او ډک کړے ئے نهٔ وی . بیا
هر طور ورمه ورځ چه هغه د یو ډیر
زوړ او ژوړ کوهي د ډکولو په مټه
ورانے او په کار بوخت شو، نو
د ژوند د کوکړې رویدلے
بیاسته پرے اوشلیده
او سر د لاندے
پریوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چنده

توبه خدایه توبه ..... دجمات امام او بیا دجماته غلا ـ
یره ! دنهٔ منلو خبره ده . نو .... ګوجر لالا ټول کلے په
یوه پښبه کړو . څه که هم مولانا صیب دخپلے بے ګناهئ
ډیر دیلونه وړاندے کړل . وے ګوجر لالا چه دخلقو
په مزغو کښے کوم زهر خوارهٔ کړی وو . دهغے په
پرتله دمولانا صیب خبرو ځائے او نهٔ نیوؤ
ځکه نو دشپے شپے اووت او خپلے سیمے
ته اوکشید . لږ ے ورځے پس ئے په
ګاډی کښے یو ملک اولید چه هم هغه
بیړوئے په ټوکرئ کښے ایښے
چندهٔ غواړی . کوم چه دجمات
نه دسوزرو روپوسرهٔ
پټ شوے وو . مولانا صیب ملک اوپیژند چه
داخو هم هغه دګوجر لالا زوئے دے چه ده ئے
دراتښتولے ماشوے سره دنکاح نه انکار کړے
وو . وے مولانا صیب نه څه
کوے شو او نهٔ څه
وئیلے .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورخته

غیرت خان دخپل ښکر نه ډیر لرے وتے وو ـ ساه ئے په

کونو راماته وه ـ مخ په بره د درے څوکنړئ ته لا نیمه

لار پاتے وه چه دے کښے پرے دیو اړخ نه "پنجو"

را او د انګل او دواړه ارلیچے بریچے شول ـ نزدے

وه چه غیرت خان ترے په تیښه کښے

بریالے شوے وو ـ خو پنجو په خپلو

منګرو غږ اوکړو ـ

چه ما هم مړکړئ خوچه دے

درنه ژوندے لاړ نه شی

منګرو ئے هم هغسے اوکړل

پنجو خو د غیرت سره ځان

په تورو نیم کړو

ولے په خپل قام ئے

د مغل ورخته

په شا

کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپلونه

ریشمان ته چه راغلي میلمنې د زوزادېندۍ
پیغام د "الف" نه تر "ی" پورې
واورولو نو د مغې په زړکو سترګو کښې
غټې غټې اوښکې راغلې.
او میلمنې ته ئې په ژړغونې
آواز اووئیل -
خورې ستا نه ځار شم
خوشحالې غوزانو
ته څوک شپونه
نه ئې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجام څه په داسې ډول کیږي چه د لوستونکي ذهن تر بې
اروهرو خپل اثر اخلي او بنده په دې وینا مجبوره شي چه
دریاب په کوزه کښې سمندر بند کړے دے .

دعلي خیل دریاب د قیصې د اشکل که زمونږ په
ادب کښې خپل ساری لهتوی . نو ذهن دعبدالقادرخان خټک
په ګلدسته باندے تیکاوے کوی . " ګلدسته " د فارسۍ
ژبې د نومورې لیکوال شیخ سعدي د ګلستان پښتو ترجمه ده.
کومه چې زمونږ د نثري ادب په وړومبو کتابونو کښې ډیره
قیمتي دالئ یادیږي . اوګله څنګه چه د ګلستان حکایتونه
د شیخ سعدی د مشاهدے ، علم او فکر یوه بې بهاپانګه ده.
هم په دغه ډول بناغلی دریاب د خپل چاپیرچل او خواوشا
نه داسې واقعات ، کردارونه او مشاهدے راخستي دي . او
په خوند خوند او رنګ رنګ ئې بیان کړي دي چه دوستونکي
ورته په داد ورکولو مجبور شي . زما ددے وینا نه دا مطلب
اخستل نهٔ دي په کار چه ګني زهٔ خپل شاګرد د سعد
غوندے د نړیئز ادبي شخصیت په مقابله کښې راودیتل غوارم
زما اشاره د دریاب ددے افسانچو اسلوب ته ده چه هغه
د بناغلی سعدي شیرازي د حکایتونو د طرز سره ډیر
سمون خوري .

" د ګل پا نړے " د افسانچو انداز طنزیه دے او هره پیښه
هره واقعه او هر کردار یکښې په شعوری ډول د لیکونکي لهٔ خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیرنه تولیه

والاکی یوه داسې خیرنه تولیه وه چه هرچیا

به پرې د خپل شهوت ناولی لاسونه پاکول

او بیا به یې ماسخوتن تیر چه د بدې مرغه شفیق هم

په دغه مخه وراغلو ، نو سحر د مخ

ژوند اینګر ته دغه خیرنه تولیه

ځانګیده . ولې د شل کاله

تیریدو باوجود هغه یو ځل

هم استعمال نه کړې

شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میراثه - کونډه

کریم اوکلیم چه په چتیٔ کښې راغلل - نو په غولی
کښې ئے د برستنو صندوق اولیدو . کوم چه ئے
مور د صفائیٔ په غرض رابهرکړے وو -
دواړه ناپوهه ماشومان ورته ورادِخِتل
او خپله ئے د صندوق سر رابند کړو
بیا څهٔ وو ، ویرے ترتقے ئے
او وهلے ، خو څوک چه کونډه
زرغونه د شتمنے ابیٔ
د تپوس نه راتله
نو هغه میراثه
شوے هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې روزګاري

ماسخوتن چه د چرګئ په غاړه د ډوډۍ خوراک نه

وزګار شو - نو ادے م د هوټلو کښې وروړ ته

او وے . "بچے مونږ زده کړه ....مونږ

....ګنې بیا به درله څوک ښځه

نۀ درکوي .

هغه

زما بے روزګاره رايم - اے

انګلش) ورور ته او کتل

او ، اوے ویئيل

ولے خان دادا

له هم مونږ

نۀ ورځې

څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جوارګر

زما نوم ځمرا دے

د برکيلي د شګلنې با نړۍ د طوطي کل لور

يم . پښتونخوا کا لاله وراند ے چه پلار

د جوارۍ په دوق با سلم . نو

کميلي جوارګر تر د ے را اورسولم

ماموں چه د چکلے په برنده

تياره کښے د ځيلے سکه

خور پيش ښه کلو اوکره

نو هم د هغے په

غين کښے په

لوئے خوب

اودګا

شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

*I miss you so much.*

دا د حیا نازولے احساس وو که د مینے انتها وه چه دوه کاله
مو په ځانځے دا اړول خو ما د خپلو تو دو جذباتو اظهار
ستا په وړاندے اونۀ کړے شو - ولے اوس چه زمونږ د
د بیلتون ایله یوه هفته شوے ده - او زما د زغم
پړی پرے کیږی - نو په دے پیکلو مجبوره شوم
چه د ژوند په اوږده لاره زما ملګرتیا اوکړه
زۀ یخی یوازے یم اوکه تا زما لاسے
اونۀ نیوۀ - نو زۀ به ورکه شم
ځکه چه

*I miss you so much*

دخوب په طمع - ستا پا غونده

نیک م اولوستلو ولے زۀ حیران ووم چه نۀ خو په یونیورسټی کښے
ما دغے جینۍ ته چرته په خوانږه سترګه کتلی وو - او نه م
ترننه دا سے څه سوچ کړے دے - په دے چه زما په سرکه
د پښتو خوینده د وونو دروند پیټے دے او پښو کښے
م د دریو ورونړو د تعلیمی اخراجاتو زولنۍ دی. نو
د ژوند په ازغنه لار د بے روزګارۍ تګ هم
دے اوس تۀ اووایه چه په
ما مینے تا ته څه
اوپیسکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژرنده

دکله نه چه ناظرکے دخپلے ژرندے مالک شوے
دو ۔ نوهم دهغه وخت نه به کله کله مشرخان پخپلو
اوبو دهغهٔ ژرنده گرځوله ۔هم دارنگے بےروں
ماسخفتن تیرچه مشرخان پخپلو اوبو دناظرکی
ژرنده نبهٔ اوگرځوله او واپس شو ۔ نوځهٔ
کودی چه ناظرکی هم دمشرخان په
ژرنده اوبه راسیے کړی دی۔
ناظرکے خوځے مړکرو او دخپلے
ژرندے ورونه ځے هم د
همیشه دپاره قرب
کړل ۔ ولے نهٔ ځے
ځمان ته څه اوی
اوندځے ۔د
ناظرکی ژرندے
ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شلتالان

اکبر د صدیق استاد د مېرمن کور ودانې ایلې یې ړنګ کړی وو. ځکه چې

د هغه د دوېمې ښځې د زوزاد نیالګي شنډ شوي وو. د دې تر څنګه

نه یې د هغه ځوانۍ صدیق استاد تر کاله کړه. اګر چه

اکبر د مېرې مور د بد سلوکۍ له وجې ډېر ناکراره

نه ؤ اېښوده خو پلار ئې پرې دا زړه په وچ زور

او ښځه. ځو ورځې په قلار تېرې شوې.

خو ورمه ورځ چه اکبر کور ته راننوت

او پلار، مور ته ئې لاچی دانه په

مېږ کېښوده. نو مور ئې لکه د

لنډۍ د قهره تاؤ شوه

اکبر ته ئې د پلار په وړاندې هغه څه او وېل چه سپی

هم په ژبه نه ایښوده. بیا پاسېده او د اکبر

د واسکټ د جیبه ئې یوه توره ګوټۍ را واخسته.

وې ته ګوره. ښځې له شلتالان راوړي — او دې

سره ئې ګوټۍ پرانسته. چه پکښې

دوه دری هېر رېونګ کړی پراته وو. بیا څه

وو. زمکه چاودې نه

او آسمان لرې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مذهب که مینه پښتو

یاسمین زما په غیږ کښې سر کیښود او په سلګو سلګو شوه او وې
مونږ که د مذهب له رویه د ژوند منګري نه شو جوړیدې
په دې چې یو ځائې موږ پښې خوړلې دی ـ او د
مینې د دستور له مخه زمونږ بیلتون ناشونې
دې ـ ځکه نو د پښتو د روایاتو په
اروند زه تا ته خپله ځواني
بخښم ـ او ما هم په غیر شعوري
طور د هغې د نمبه نمبه
جذباتو د سر
نه خپله ځواني
تاوُ کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قاتل څوک دے؟

په داسې حالت کښې چه ښه ورځه دنن او دسبا وه خو بیا پرے
هم خپلو مجبورو دخان دکور رڼا متو نه کول - ماښام چه
تیارهٔ لګیدله او شرق باران وو نو هغې موذي ګل ته
اووے - سړیه ! زهٔ ستړے یم - که دا تهٔ نه د
تیل را اوړهٔ نو ډیره به ښه وي - شپه درسه
دلا - او په لالټین کښې تیل نشته - دے
موذي ګل دشکوره پښے راټا وُ کړے او هغه
ئے په زور اټي ته اولیږله - بدرګ
د دوُ اګو تیل په لوئے شیشئ
بوتل کښې واخسته او دا روانه شوه
خو دجمات په شاچه مخ په بره راخته نو پښه ئے اوخوئیده
را ارټاؤ شوه او دشیشے بوتل ئے په خیټه کښې مات شو
په یو وخت دوهٔ کسه قتل شوه ... قاتل
څوک دے ؟ موذي ګل ؟ - شیشیز بوتل ؟
که د یونین هغه ممبر چه تیر کال
ئے زمونږ سره سره د بدرګ
نه هم درے لارے د ښتو نو
په بهانه ووړ
اخستے وو -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توپیر

مالګېرے زورور سړے وو - په بت خیله کښې
ئے یو هندو راتینګ کړو - ورته ئے ووئیل
هلکه دا کلمه اووایه چه
لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰہ" او
مسلمان شه - هندو پوهه شو - هغه
ووئیل ښه ده - مسلمان شوم - کلمه
م اووے چه لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ محمّد
رّسول اللّٰہ" خو اوس م د دے
کلمے په معنیٰ، مقصد او
فرائضو پوئے کړه. مالګین
وے یره په دے خو
زهٔ پخپله نهٔ رسم .
هندو ورته د خندا
نه شین شو - ورته ئے
اووے نو بیا په مونږ
دوارو کښے "توپیر"
د څهٔ دے .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# MENSES

زړه ولاړ وم - نیک عمل ډاکټر شفیع ته ورغی! یوڅه

د زمری زوئ دے، څه کله هم د جمات سره ئے ورانه دکا. غلا

ډاکه او جواری هسې وګناه نه ګڼي، خو روژه خوړل

ورته کفر او بې غیرتي ښکاري - او هم دا وجه

ده چه خپله درې میاشتي نا وے ئے

په روژه خوراک اولیده نو پوزئے ترے

او وئیست - ډاکټر شفیع او وے - زمرے

نه - خر دے - خر ځکه چه په

عذر کښې روژه خوراک نه بې غیرتي

ده او نه کفر او د هغے دمینی تکل

رپورټ نه معلومه شوے

ده چه د هغے عذر وو

او د هغے عذر ته په

په ډاکټری اصطلاح کښې (Menses)

وائي - ډاکټر صاحب ماته مسکے

شو او نیک عمل مونږ ته

حیران حیران کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شین خالئ

هغې چه به پخپلې ماتې بنیبنه کښې اوکتل . نو د
خندا نه به شنه شوه - اول اول زما خیال
وو . چه لیونئ کښې په ځان پورې
خاندی ، ولې نن چه ما شین خالئ
د درنې کیدې سره اولیده
نو پوهه شوم . چه
هغه په ځان پورې
نه بلکه په مونږ
پورې
خاندی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څادر

ګلرنګ ننبیا دڅادر ذیل نیولے وو . دبےوسه
پلاړ چه نور وس اونهٔ رسید . نو بیا ئےپرے
راباندے کړه ، بنهٔ ئے اووهو . دکوره په
وتو کښے ئے دځان سره اووے . تهٔ ګوره!
دے خپلے غریبۍ ته نهٔ ګوری . زمونږ
د رزق درک نهٔ لګی اوخان پکښے
څادرے غواړی . هلکه سرے
دخپل څادر سره پښے غزوی ګلرنګ
ورته په ژړا ژړا کښے اووے .
داجی چه څادر م نشته
نو پښے د څهٔ سره
او غزوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دتوبې بورجل

بیا بیا ګناه — بیا بیا پښیماني او بیا بیا
توبه - نه - بالکل نه - په ګمان
پوهه نهٔ شوم - او خپل ځخ ته م
د شرابو تش بوتل را اوغورځوو. زړهٔ
زخمي نهٔ شوم . ولې ځنګځ
په دیوال لګیدلے ائینه سرهٔ
د بوتله چورې چورې
شوه - افسوس ! چه
دتوبې بورجل نه
وے - نو
ګناه به
ځرته
وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تعلیم

د یونیورستۍ په میرج هال کښې مقدس صاحب
رانږدې شو ـ ویې ل ته هلکه ستا د وادۀ خو
ایله یو کال اوشو او د کور ودانې عمر د
هم ډیر کم ښکاري ـ ولې د نظر دا
چشمې ...... ماوې سر! څـــۀ
تپوس ئې کوئ خو ـ سترګې ئې خوږ
وې کورکښې "ایلفي" پرته وه
دې ویې ل جوړې دا د سترګو
ټکې د بس هغه ئې پکښې
اچولې وو ـ اوس..
.. مقدس صاحب

زماخـــبره

پریکړه
ویې ل ئې ـ یره! تعلیم بنـــۀ
شې دې نو..

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ابلیس

شیخ استاد د قصو سړے وو . یوه ورځ ئے ویل بیګا چه زهٔ
له راتلم نو باران وو . په ښخو کښے داړپوتم . کورته ستون شوم
جامے مے مانځے کړے . را اووتم . خانه زاړه هډوکی دی . بیا داړپوتم
نو داخل مے جامے ډیرے سخا شوے . بیا مے ځان سم کړو . او
په دریم ځل چه را اووتم . نو بیا راکیل شوم . همسا
رانه هم چرته بے درکه شوه . واپس شوم
جامے مے بدلے کړے او چه دکوره بهر شوم
نو یو ځوان زلمے ولاړ وو . ویل ئے بابا
راپښاشه . زهٔ درپښا شوم او دجماعت
په پینار ځائے کښے ئے کوز کړم . ما
ورته اووے . زلمیه ځان راسته
اوښایه . هغه ویل . بابا زهٔ
ابلیس یم . ما وے چه ته
ابلیس ئے نو بیا دِ زهٔ ولے
ته څنګه راوړم

هغه وے ! یو ځل چه ته راړپوتے نو خدائے پاک ته اوبخلے . په
دویم ځل ئے ستا اولاد اوبخلو . په دریم ځل ستا د خاندان بخښنه
اوکړے شوه . ما وے هسے نه چه په څلورم ځل راړپوځے او د
ټول کلی اوبخښی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حوالدار فاتح رحمٰن

نیمه شپه ده - عثمان سپاهی په توده برستن کښې پټ نغښتی
پروت حوالدار فاتح رحمٰن ته د سلوټ نه پس اووے
خان پاخئ - د اغوا کیس دے - پرین ده زوروره !
کمره کښې ئے بنده کړه - سحر له به کټے شي - او
بیا سحر وختي حوالدار فاتح رحمٰن د خپل ګونګی
زوئے په غیږ کښې د یو ماشوم لاش اولیدو
ځوک چه هم د دغه ګونګی ورور وو
په نوے واده شوے خور پسے
ئے بیګاه ژړل - ګونګی پسے
ورلو چه د مرګ کوے ته
لاړ - پته نشته چه د
اموخته خور ذیل مړ
کړو - که د پلار
د یغنئ
ظلم -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# استاد جي

بریالے په ژړا کور ته راننوځ . مور ئے
په غیږ کښے نیسي او پوښتنه ترے کوي . چه
ځه اوو ولے - هغه جواب ورکوي چه استاد جي
ـــ ـــ یه ! د استاد لاس مات شه چه
زما بریالے ئے اوو هـو . . . .
نه نه ادے ، داسے مــهٔ
وایه ، که زما د استاد
لاس مات شو . نو
بیا به ما تـــه
تختې څوک
کښـــــه
کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توپک ملنګ

زۀ ولاړ وم او کیلګارانو کوټه سوروله
توپک ملنګ راغے . وے دے خلقو ځــــهٔ
ځان ځانی جوړه کړی دۀ - خو په دے
غرونو دی لرګی کیږدی . یـوه
لویـه کوټـه دِ جوړه کړی او پـه
هـیـر دِ اوسیږی - کـنـه -
ما وے ملنګه دومــــره
اوږدۀ او بڼدۀ لرګی
به له کومے راپیدا
کومے . هغه وے
ته دا سے خلق
پیدا کړۀ نو
لرګی زما
ذمه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توخے

مازیګر موږ اوشو او موږ دجمات سنه
راوتو ـ چه په کوڅه کښې ډزے شوے. خلق
منډے کړے ـ او موږ چه دمضبوط آکا
ورځ ته اورسیدو ـ نو درنګین اخری
سلګئ وے ـ دشمال په پوښتنه
مضبوط آکا اووئیل ـ چه دے
ولے زما په ورځ کښې او توخید
هغه اووے بنه تا زما
ترېور ایله په توخې مړ
کړو ـ مضبوط آکا
جواب ورکړو ـ
وګورئ
توخے توخے
بویه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کرامات

دولے شهید خواته دپلالے دتوپونو سره کنړه جوړه وه. زهٔ
وراغلم. عبد ولی، رحمانی گل ته او وے خلق لیونی دی خو؟
چه دلته خپلے کیاکانے، تمانچے او پلالهٔ امانتی بږدی.
بیگاه دغے اسپے چه خنګه کیاه له خله ورورې
ده نو زیږه نکیں او وختے ده. دومے خبرے
اورین و سره په ما هم غونے زیک زیک
شو او غوږونه م سپیره کړه. وے
اکرام لالا مین په خندا شو. ما وے
ولے ته کرامات نهٔ منے خشه
هغه وے کرامات منم خو دا
اسپه کراماتو نه بلکه د
بجلۍ دغے شاټ شوے
ستنے وژلی ده. او
ماچه اوکتل نو
نواسپه رښتیا
د بجلۍ ستنے
ته ږږه
شوے
وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نامه

زهٔ د کالهٔ په ورځ ورننوتم چه غانمتول، ملغرے ته
اووے ۔ شیطان شیطان ! کوُ ۔ هغے وے چپ شه شیطان
خو زما ابو دے ، هغه څنګه ؟ د غانمتول په تپوس ملغرے
اووے ۔ بیګاه ما ته ابو ویئیل ۔ وینبتهٔ پټ کړه
بانګ وائی ۔کنی شیطان به دِ په سر
کینے متیازے اوکړی ، ما وے ابو شیطان
کوم دے ؟ هغوئ ویئیل ته سترګے پټے
کړه اولږ ساعت پس چه ما سترګے
اوغړولے نو وینبته م لواندهٔ وو
په کمره کینے د ابو نه علاوه
هیڅوک نهٔ وو ۔ څکه نو
شیطان زما ابو دے ۔ ما
چه د خپلے ډیر ما شومے
لور ملغلرے خبرے
داورید ے او بیا م په خپلو
اعمالو سوچ اوکړو نو
یقیناً ما سره هم دغه
" نامه بنهٔ لګی ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایمل خان کانسي

ماچه ستا د سپېڅلو روایاتو په خاطر د خپل پلار

بدل واخستو - نو تا زۀ د مرګ په سودا کړو

خرڅ کړم - بنده دې اوکړه ، او ډېر بنه دې

اوکړه - خو افسوس چه معصومې ستا

متعلق دانۀ وے ویلې چه

دده خاورے خلق خو به

څو ورځو لره خپله مور

هم ونه ژاړي - نو

زۀ خو هسې مړ

وم دومره

دردیدلې

به نۀ

وومه

مړۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مسلمان

د کابل نه په واپسئ کښې یو دُکان ته د چایو اخستلو په غرض
وراغلم ۔ دکاندار نه مې پوښتنه اوکړه چه څهٔ کړه مله خو دِ
پکښې نهٔ ده کړې ۔ هغهٔ راته بښکته پورته اوکتل او
بیائې په فخریه انداز کښې اووئیل ۔ ولې زهٔ
درته "مسلمان" ښکارم څه ؟ زهٔ هندو
یم ۔ هندو !

زما غوږونه سره شو ۔ د پښتو
لاندې مې زمکه اوتښتیده.
او نهٔ یم پوهه چه
د دُکان نه کله
او څنګه راوتې
یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# MASTER KEY

شکر بخیلے " Master key " د ډیرو کورونو
جندرې بیرته کړے وے اوبلا خو نے ئے لوټ
کړے وے خو داخلو دم کال دے چه دچل کالهٔ
پورے ورته ناست دے ، ډیره لویه
خزانه ترے تالا شوے ده . و لے
نهٔ خو شکر د غه جندره
ما تو لے شي او نهٔ
ئے د هغـــه
Master key
دیرته کولو
توان
لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کفاره

چند نن د کوډګورې د قبر د سر خزه بشکل کړه . نن مې
رسید ونګی لاسونه ئې اوچت کړل - سلګو او نیوډ
او په زړغونی آوازئې او ویل - سه

په سینه خله روژه کړه ماته
د کفارې روژې به دوارو او نیسونه

کوډګورې ! ما خو د ځان د پاره
توبه هم او ویسته - او د کفارې
روژې م هم او نیوې . ولې
نه پوهیږم چه ستا
د پاره دا کفاره
څنګه ......
څنګه ... او
څنګه ادا
کړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پتهان آکا

زمرک چه پتهان آکا کورا قبرستان ته په دُعا اولید. نو ورته ئې اووے" اکا داخه کړے؟ ته خو عیسایانو ته دُعا کوے. اکا ورته په غصّه کښې اووے.

نو بیا هغه ډاکټرانو ته دعا اوکړم څه؟ چه دپلار دَ ناکامه پریشن دپاره ئې په تا د بنیځې

کالی مکانړه کړه ...... زه خو به

تل عمر دوئ ته دعا کووم. ځکه

چه زما د سترګو اپریشن

ئې بالکل هسې او

بے پیسو کړے

دے ......

اوُ .....

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان

ما د شیشې نه اېله هغه لیدلو - چې یو ځې پېغلې جینۍ
ورته خپل پړونے کوز کړو - هغه ئې په دواړو اوږو لاس کېښودل
بیا ئې یو لاس د اوږې نه د هغې سینې نازکې لیچې ته راوړسوو
لږ شیبه پس ئې دواړه لاس د هغې د راوتې سینې نه
تاؤ کړه - د غه شان په قلار قلار لاندې راغې
او لاس ئې ورله بېرته راوړسوو - په یو
لاس ئې د پېغلې بڼۍ اونیوه - او په بل لاس
ئې د هغې د پنڅې نه لاندې پاېزیب نه
شړنګ اوویست - "بس اوشو"....
اختری پېغله رخصت کړه - وے
زۀ په سوچ کښې پریوتم - چې
ترا وسه پورې په خومره
پېغلې هم په دے ښار کښې د فیشن بلا د فساد وښو
ښکار کړې وی - او خومره " اختر و"
به د خومره پېغلو نه هم د غسې
لاس تاؤ کړې وی - کاش
انسان
خو د دے نه په غار کښې
لغړ بربنډ وو -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کورنۍ خصلتونه

دسوالي تېبرچې غريبۍ د اوږد دے ناروغۍ نه پس مړه کړه - او
په سود راخستې شوي روپۍ په اسقاط کښې تقسيم شوے . خو
ماشوم زوئے ته ئے په ضد يره کښې بل يو ماشوم اووے...
چنانچه تاسو خو ماله د اسقاط پيسے رانکړے . خو زما
مور به مړې کنه ؟ ته به زما نه پيسے اووېنځم
... ؟ ماور ته وے چپ شه . خدائے دې ..
... "بازدا" زما خبره پوے کړه - ويئيل ئے
دا خو د هغه سړي زوے دے . چې پلار
ئے د لوږے نه مړ شو او خپله د خلقو
په راوړو ډوډو موړ شو نو
مورته ئے اووئيل - "اد ے
مته به کله مرے چې
خلق زموږ کره نو ګ
ډوډۍ راوړي ... " دے کښې دے غريب
ته څه ګناه ده - دا خو کورنۍ
خصلتونه دي - ځان د
سره کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سکندر

---

هسې نو هغه د ښار د لوئې هسپتال لوئې ډاکټر وو.
او د ډګرو ئې هم يو لوئې پنډ تړلے وو. وے
نور غوړمنګے وو. ګنې په دومره ډېره تبه
کښې به ئې سکندر ته وے انجکشن کولو
او هم دغه انجکشن په ډېرو سوالــونو
دعاګانو او منتونو پيدا شوے ايــکی يو
نيازبين سکندر د بابا د غيږے او شکوۆ
زۀ نۀ پوهيږم چه د ښار په دے
هسپتالونو کښې به د ورځے څو سوۀ
ماشومان لکه د سکندر پشان
د دے قصابانو لاپرواهئ
ښکــار
کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میلمه

سرپه ژوله وله — ډزکوه، کنی چیچي دی —
اوښو بنجې! کورته راغلے میلمه په خپل غوبلی
کښې اخر څنګه مړکړم — شراب درے
ملک مارمړ نه کړو - خولن ساعت
پس مار، شـراب درے ملک
مـړکـړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ممتاز

ممتاز ښځه موږ شتمنه او د خاورې خاوند وو - ولې چوارۍ
د مړخه نه اوزګار کړې وو . د تیرو شلو کالونه په
بازارکښې ګرځي او د یوې عجیبه سودا سرګسم ســـوال
کوي . د دکاندارانو نه پیسې اخلي او ســـپـه
ماشومانو ته ویشي . یوه ورځ ترې ما پوښ
اوکړو چه دا ځان له څۀ زۀ چاوډون
کــتــلې دې . د دکاندارانو نه پیسې
اخلې او په ماشومانو ته ویشي.
ممتاز د خندا نه شین شـــو.
ویل ئې ـــ دنیا د ناپوهو
ده . د نویو ناپوهــو نــه
ئې اخلم او ورو ناپوهو
له ئې ورکوم . زۀ ممتاز ته ګوته په خله
ولاړ پاتې شوم او هغه
په ورانــدې
روان شـــو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیکوال پیژندګلو

نوم - بادشاه روم

دپلار نوم -

حاجي عبدالرحیم

ادبي نوم

علي خیل دریاب

د زوکړې ځائے او

نیټه :-

امان دره ملاکنډ ایجنسي

۲۱ مارچ سنه ۱۹۷۰ء

تعلیم :- بي - ایس سي

بي ایډ ، ایم - اے پښتو ګولډ میډلسټ - ایم - فل ریسرچ فلو - پښتو څانګه

پېښور پوهنتون کار :- ټیکل ، لوستل او لوڅول

درک :- کلے او ډاکخانه امان دره ملاکنډ ایجنسي فون ۲۹۷۰۱م - ۵۹۳۲۳

## دیکوال اثار :-

۱. د فرهنګیاني نوشحال د دستارنامے فرهنګ
۲. غور څاڅکي (مقالے) نثر
۳. بوسیکونه ( " ) "
۴. سپلمۍ کښے ګیښونه (محاورے) نثر
۵. پښتانۀ او توهمات "
۶. د رحمان بابا اجتهاد "
۷. سباسیل په دامان دے (افسانے) "
۸. وږدانه (طنز و مزاح) "
۹. نورګے د تیغونه (تبصرے او مضمونونه) "
۱۰. شګے او زګونه (ترجمه) نثر
۱۱. شفق رنګه لارے ( " ) "
۱۲. سپینے ځلے او ګل بنیرے "
۱۳. ګوګرے دنے "
۱۴. عطرژن (نظمونه) شاعري
۱۵. غزل بنړ (غزلے) "
۱۶. غانټول " "
۱۷. هیښه ګلونه (تالیف) "

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library